Jun – July 64

علمي اجتماعي او ادبي

چنګاښ (۱۳۴۳) لمر نۍ کال د (۱۹۶۴) عیسوي کال جون او جولای

شمیر	مضمون	لیکوال	مخ
۱ـ	دویلی په ملي موزیم کښې...	پوهاند رشتین	۱
۲ـ	دلال پوري شریف	مجاور احمد (زیار)	۷
۳ـ	دو رامو لیکنه	سیفي	۲۴
۴ـ	د پښتو اصطلاحات	حبیب الله پښتون زوی	۳۸
۵ـ	د پښتو شعر او ادب ...	واسعي	۵۶
۶ـ	هیله (شعر)	نثاري ستانیزي	۶۲

امتیاز د پښتو ټولنې

مشر پوهاند رشتین

مسئول مدیر محمد صدیق روهي

دهند دسفر له یاد داشتو څخه

د ډیلی په ملی موزیم کښی د پښتو

قلمی نسخی

(۲)

۳ ـ د حبیب الله دیوان :

داقلمی نسخه هم دټونك دسر کار په کتابخانه پورې اړه لری اوپر له پسې لمبر یې (۱۸) دی . دغه نسخه ګل محمد پشاوری دمیامحمدی صاحبزاده په وینا په (۱۱۷۵ھ) کښی په پارسی خط لیکلی ده لیك دودیې رواجی اوسم دی، جدولونه نه لری خو پښتو توری یې سم لیکل شوی دی.

حبیب الله داحمد شاه بابا هم زمانه شاعر دی په یو شعر کښی دکندهار ډیره یادونه کوی لکه چه وایی :

نن به وایم څو خبرې آه ارمان دی کندهاره

ښه خوږه ښایسته نادره آه ارمان دی کندهاره

چه راپورته له خیبر شوم سترګی مږم په ژړا شوم

تو به ګار له پردو خپل شوم آه ارمان دی کندهاره

چه داخل په کندهار شوم نا آرامه پرقرار شوم

په ثنا دکردګار شوم آه ارمان دی کندهاره

چه باد شاه یی ډیرعالی دی بیادوم یی شاه‌ولی دی
مستقیم په‌خپل ولی دی آه ارمان دی کندهاره
چه یی نوم احمد پادشاه دی کل‌عالم دده نیك خواه دی
شاه ولی یی پشت پناه‌دی آه ارمان‌دی کندهاره

دی په پیښور کښی هم اوسیدلی دی لکه چه وایی :

زه حبیب چه اشنا نه وینم په ستر ګو
پیښور راته تنور شوله کابله
خو اصلی ځای یی کندهار معلومیږی .

حبیب الله‌دمیاعمر ځوکښی مرید ښکاری او دهغه ډیره ستاینه هم کوی. سربیره پردې یې په‌خپل ډیوان کښی داحمدشا بابا مشهور جنرالان هم ډیر ستایلی دی لکه ابدال خان شاه پسند خان او عظمت‌خان، حبیب الله په‌خپل شعر کښی دپارسی او اردو خوند هم داخل کړی دی :

برعاشقان نظر نکند یار کیا بلا هی
میرفت خون ز کشتهٔ بیمار کیا بلا هی

حبیب الله یومتوسط شاعردی ژبه یی ښه ده پښتو لغتو نه ډیر راوړی اویو پوه سړی ښکاری. دحبیب الله دد یوان شروع په دې بیت شوې ده :

الف نوم دی ثابت شوی د مولا
عالمونه یې عاجز دی له ثنا

او اخری بیت یې دادی :

اې حبیب الله ته اوس عاشق د پاك الله شه
هسی لکه وه زلیخا خوار ه یا صنعان

د ده دد یوان په پا ی کښی الف نا مه او یوه وړه مثنو ی هم شته دی .

اوس دده له دیوان څخه دوې نمونې راوړل کیږ ی :

سا قی را و ړه جام د میو پیما نه
چه یې نوش کړمه په مینه مستا نـه
هغه کـوم دی چه له دره دې محروم دی
تـه له مـا وا خلـه دحسن بیا نـه
چه د ستا په در کښی درومی ځان فنا کا
زه هـغه ګڼم د مینی زر دا نه
په دنیا کښی که څه وی کار ونه دا دی
چه و رد رومی په دیدن دجا نا نه
وا یه چیری دی طاقت دعا شقا نو
چـه ور واړ وی عـینینی قتـلا نـه
نه پوهیږم چه په زړه دی پراته څه دی
چه جبیب الله ګڼې له د ره بیګا نه

- ۲ -

دا ز ما د لبر به څه کا
چه خبر ې له ما نه کا
که ښندم سرو مال دواړه
نی ا خلی په کو نجکه
درست جهان را ته تنور شی
چه می یار رقیب ته تله کا
د رقیب علاج اسان دی
که می یار څه خو له زړه کا
واړه دا ددې په ما شوی
چه می یار ویل خوا ږه کا
ته چه ځی نو په ما غم شی
له خیبـر ه تر ا ټـکه
رقیبان په ما پوهیـږی
چه بـدی به نوره نه کا
دحبیب ویل خوا ږه دی
له مهمـند ه تـر خټکه

۴ ـ د ملالتاړ دیوان :

دا دیوان هم دټونك سرکار په کتابخانه پوری اړه لری اود (۲) لمبر په نامه قیددی . دغه نسخه په (۱۲۰۴ه) کال کښی د (روح الله) په قلم په عربی خط لیکل شوې ده . خط یې ښه روښانه دی او ښه جدولونه لری . په خپله د دیوان دجوړولو تاریخ (۱۱۹۰ ه) کال دی لکه چه وایی :

چه تمام مـی دا کتاب شو افغانـی
شوه یو سل زرنوی کال هجرانی

دا سی ښکـاری چه مـلالتاړ دهند پـه رامپور کښی اوسیده او دفیض الله خان نواب هم زمانه دی لکه چه وایی :

اور ؤ پښتون ته نورهندوستان ؤ
په رامپور جمع ټول افغانان وو
د لوی وړو کو واوریء یارانـو
سردار نـواب فیض الله خـان و

ملالتاړ خپل دیوان دخپل عمر په دیرش کلنۍ کښی لیکلی دی . دی په خپل دیـوان کښی د (شاه علی ګـوهر) نوم یاد وی لکه چه وایی :

عجب دور دوران دی — یاغی شوی هندوستان دی
نوم دشاه علی ګوهر کا — په کور هر سړی سلطان دی
نه یې امر قبلوی څوك — نه قوی د ده فرمان دی
په یورب یې عمل نشته — هم دکن تری په داشان دی
دی سنی چاریاری دی — په صحیح لاری روان دی

ملالتاړ یو متوسط شاعر دی او درحمان بابا دمسلك پیروی کوی

خو په شعر کښی یی کله کله یو څه جوش او رنګینی هم پیدا کیږی لکه :

نن شاه بی حجابه په خو نی انګڼ ولاړه ده
روغه خلقه یی په دیدن مستانه واړه ده

دملالتاړ دیوان په دې بیتونو شروع کیږی :

کل ثنا ده خدایه ستا چه ته رب یې د هر چا
ښکته پورته چه هر څه دی همه واړه دی له تا
ته څښتن د کل عالم یی بل یو سیال نشته دتا

-۱-

دشعر نمونه :

په ګوګل می دګویا توتی چڼاده
ترغوږ شوی می دسپین پایل شڼاده
چه تاریکه شپه می ورځ شوه له تاثیره
آفتاب نه دی داد شاه دمخ رڼاده
ددنیا په نعمتونو نظر نه کا
چه خوړ لې چا د شاه دباغ مڼاده
پتنګان مدام پرواز کاندی په شمع
په سر ګلو د بورا همیش بڼاده
په څېلمه دکلی کوکی ګیدران کا
په ماښ کښی د عظیم زمری تڼاده
خرکچر نارې وهی دزړه له تاوه
د ښو اسو همیشه په ورو هڼاده
دلتاړ به دا شهباز زړګی اسیر کا
صیاد لومو ورته ایښی په هوڼاده

-۲-

چه له حاله دې خبر شوم ستا د غم پیټی په سر شوم
نه څه اورم نه څه وینم په دنیا کښی کور و کر شوم
ستا د مینی له سببه وچی شو نړی لیمه تر شوم
لیو نی لیو نی ګر ځم په وګړی کښی اوتر شوم
ستا د عشق په اندیښنو کښی له هر چانه مرور شوم
په کو ښښ ددواړو سترګو نندارچی د بحرو بر شوم
ستا د زلفو ښا ما ر نیسم په عالم کښی جادوګر شوم
تل دزړه په قدمو نو ستا و لور ته په سفر شوم
داخلاص اکسیر می بیاموند په مثال د کیمیاګر شوم
په مسکین صدف د ننه زه لتاړ لکه ګوهر شوم

✿ ✿ ✿

۵ ـ د صدیق دیوان :

دا دیوان هم د(۱۹) لمبر لاندې دټونك د نواب په کتابخانه پورې اړه لری . دانسخه دمیا محمدی صاحبزاده دپاره په (۱۲۲۳ ه) کال لیکل شوې ده. دپاسه پرې داعبارت ښکل دی (دفقیر محمدی کتاب دی). په روښانه پارسی خط لیکل شوی او ښایسته تیلا یی جدولونه لری لیك دود یې دختکو دلیك دود په شان دی . دسر پاڼی یی پوره دی خو په آخر کښی یوڅه نیمګړ تیا لری. صدیق دشهزاده معظم مغولی هم عصر دی. داورنګ زیب په زمانه کښی وړو کی هلك ؤ . اصلا داشنغر ؤ خو دپیښور په نو ښار کښی او سیده لکه چه وایی :

دریغه که وطن په تورو غرو نو د صدیق وای
مه وای په نو ښهر ملك یی مه وای اشنغر

(پاتی په ۵۲ مخکښې)

نومیالی پوهان

دلال پوری شریف

دلال پوری شریف ددیارسمی لمریزی هجری پیړی په وروستی نیمایی کښې دشعراوشاعرۍ ډګر ته راوتلی دی او ډیری حماسی چار بیتی یی ویلی دی . د ژوند دحالاتو په باب یی کوم باوری روایات په لاس کښې نشته مګر دهغې سیمې د اوسیدونکو دو پنا له مخې د۱۳۱۳ او ۱۳۱۴ (لمریز هجری) په شاوخوا کښې داتیا کلو په عمر وفات شوی دی چه دغه روایت د کابل مجلی (۱) او پښتانه شعراء (۲) له قول سره توپیر لری ځکه په نوموړو خپرونو کښې د ده د وفات کال ۱۳۰۷ قمری ښودل شوی دی البته مخنی روایت حقیقت ته یو څه

---

(۱) د۱۳۲٤ د کابل مجلی شپږمه ګڼه دښاغلی جرار لیکنه

(۲) د پښتانه شعراء دریم ټوک ۱۳٤۲ .

نژدی ښکاری په دی چه شاعر د خپلواکی تر جګړې پورې د خپل ژوند اثبات په خپله کوی او په دی باب یی یوه چار بیته ویلی ده چه وروسته به یی ګران لوستونکی ولولی .

د مرحوم شریف د شاعرانه الهام سرچینه د ښارونو می پیغلی ناکامه زمینه وه چه په ځوانی کښې یې دده مخه ځانته واړوله . هغه سونګ او غلبلی چه دده په اشعارو کی لیدل کیږی دده د سوزوونکی مینې ښکارونه وی دی .

دی که څه هم له وړکتوبه دلیك او لوست له زده کړی بی برخی ؤ مګر وروسته د مینی ښوونکی پرې د خپل وخت رواجی علوم ټول زده کړل له تفاسیر و (۳) فقی او احادیثو نه نیولی تر طبی او میراثی مسایلو پورې یی د سامع په توګه حافظې ته وسپارل له همدی کبله دده شعری مطالبو د مینې له دایری تېری وکړ دینی او شرعی مسایل یی هم په پوره مهارت د شعر په امیل کښې وپېچل په دی برخه کښې دده هغه چار بیته چه د میراث ټول اصول او فروع یی پکښې راوستی دی دده شاعرانه مهارت او قدرت جوتوی .

دغه راز له دې اولسی خوږ ژبی شاعر څخه د خپل چاپیریال سړی تودې هم نه دی پاتی هر څه یی چه لیدلی او ریدلی په یوه منلی او نقادی توګه یی ورته د شعر او نظم نمری وراغوستی دی .

د پښتانه شعراء د ریم ټوك د ۱۳۲۴ د کابل مجلی د شپږمی ګڼی سره په لږ عبارتی توپیر د مرحوم شریف په باب داسی لیکی

څه رنګه چه د شریف ټاټوبی په لال پوره کښې ؤ نو له دی کبله د لال پوری د شریف په نامه مو سوم او مشهور دی ، دی هم یو ملی شاعر او

(۳) وایی چه شریف د قرآن شریف د پنځلس سپارو ترجمه په یادوزده کړی وه .

دخوږ واشعارو خاونددی ، شعرونه یی بی تکلفه اوروان وو په غزلو کښې یی ملی رنګ غالب او څرګندد ی

وایی چه دډیرو لیری ځایونه به مجلسیان ورته راتلل او غزلی به یی ورڅخه زده کولی .

دشریف دزیږیدونیټه نه ده ښکاره او مرګ یی په (۱۳۰۷) کال کی دی . دشریف دمینی په درد دردمند او له عشقه سخته ماڼیجن دی لکه داچه وایی :

غمز ده چغی و هم دزړه له درده

لیونی په غرونو سرشوم ګونه زرده

دغه رازدواړونو موړوخپرونودده دکلام دوه بیلګی هم قید کړی دی دادی له نورو نمونو سره یی چه نوی لاسته راغلی دی (۱) د مجلی درنولوستونکو ته وړاندې کوم :

یوه ورځ مې په بستر باندی ارام کړ

تصور مې په کردار دګل اندام کړ

دخپل یار جور وجفا ې را په زړه کړل

بیا می خپل دسوز ګداز وخواته پام کړ

ماویل چه تا اشناته ویل سلام دی

هغی ولی په جواب درته دشنام کړ

---

(۱) دانمونی مادروان کال دوری په میاشت کښې دشریف له خپل یوه نژدی شاګرد ښاغلی وزیر له خؤلې لیکلی دی اودهمدغه شاګرد په برکت داستاذ شریف زیات اشعار تر اوسه ساتل شوی چه په دی وروسته نمونو برسیره یوه برخه نور اشعار یې هم ده په یوه بل لیکلی دی او هیله ده چه لال پوری ته دکوم بل یوسفر په ترڅ کښې هغه هم ترې لاسته راوړم او دیوه بشپړدیوان دبرابرولو دپاره لیار بر براه شی (زیار) .

په قالب دتصور می اخواد یخوا
لکه زر هسی کره د یار کلام کړ
عاقبت شوه راته هسی مد لله
چه تا خدایه دمهر وغرور په نام کړ
چه مغروره ده (۱) دحسن خزانی ته
زما زړه دی بند په داسی ګل اندام کړ
«شریف» خپل شرف و نه ساته افسوس دی
بې هوده یې ځان په سرور شو نډو بد نام کړ

غمزده چغې و هم د زړه له درده
لیونی په غرونو سر شوم ګونه زرده
که می خپل که بیګانه او که دوستان دی
باری نه مې شی امید له یوه فرده
چه دعشق سره په جنګ شی امید مه کړه
چه کامیابه به څوك ځی له دی نبرده (۲)

زه ناتوان طاقت می نه شی هی توبه ده
داستا مینه راته لویه لکه غرده
روغ به نه شم ستمګاری ستا له بڼو (۳)
تیره توره ننوتی په ځیګر ده
په لال پوره کښې شریف ته له ازله
وظیفه (۴) داستاد مینی مقرر ده

(۱) په پښتانه شعراء کښی د (ده) په ځای (وی) راغلی چه دومره وړنه بریښی.
(۲) دانیم بیتی په پښتانه شعرا کښی داسی راغلی دی:
(چه به ووځی کامیاب له دی نبرده)
(۳) په دی مصرع کښی د (بڼو) کلمه په لومړی فشار لوستل لغوی مخالفت بریښی دعیب دور کولو دپاره باید داسی راغلی وای؟
(روغ به نه شم ستمګاری له بڼوستا)
(۳) په کابل مه جلا کښی دوظیفی پرځای نوکری راغلی ده.

داستاذ شریف (۱) دغه راز پاخه اشعار دی له نالوستو اوعوامو شاعرانو څخه را بیلوی اودیوه ادبی نقد اوقضاوت له مخی پر ې داحکم کولای شوچه دی یوازی دحجرواو دپرو شاعرنه دی بلکه په ادبی ټولنو کښی دمقام اخستلوحق هم لری داوروستی څو نمونی په خپله دده دا حق ثابتولای شی او ادبی نقادانو ته ډېر ښه قناعت ورکوی .

داده داستاذ شریف یوه خوږه چار بیته چه په ځنځیری ډول یې دخپلی مینې اوممدوح په ستاینه کښی ویلی ده :

دسدې سیل
ګلونه یی کتار کړی د اوربل په کنارو کښی
شانه زلفو خورو کښی
راووته په سیال

✡ ✡ ✡

ګلونه یی (۲) کتار کړی و (۳) د اوربل په پیوندی
لاس یی ایښی ؤ په تندی
عالمونه یی کړه دود
معلومه را ته نه وه چه شا (۴) وه دکوم کندی
زما زړه یی کړ بندی
لمبه می شو وجود
سره نته کښی یی پیلی و شنه خالونه بلندی
مهر نه کا په ژوندی
جوړه لورده د نمرود (۵)

---

(۱) دلال پوری اودننګرهار دنورو سندرغاړو له خوا داستاذ شریف په نامه یاد یږی . (۲) ګلونه یی باید ګلونی وویل شی . (۳) کړی وچه پوره شکل یی (کړی وو دی کړ یو ویل کیږی . (٤) شاه = شهی .
(۵) له دی جملی څخه دا جو تیږی چه دنجلی پلار دشاعر دمینی دښمن ؤ .

ستی شو م لاندی باندی د هجر ان په غر غر و کښی
اوس پروت یم په ایرو کښی
که مرمه بد می حال

✡ ✡ ✡

که مر ې او که جو ړ یږ ی سیل کو مه د سد ې (۱)
را سر ه خپله اد ې
زه یمه پر یز ا ته
په شانته د مجنون همیشه سترګی لمدې
تمه مه کوه دد ې
چیر ی ونه ګوری ما ته
پیز وا ن می آ تشی د ی نر می شو نډ ی پا لو دې
ښی په ستر کښی تو د ې
پکښی نشته کم او زیا ته
دا ستا په شا نی ډېر را ته پرا ته د ی په ا سرو کښی
ور استه شوو په دیرو کښی
په تمه د و صا ل

✡ ✡ ✡

په تمه دوصال در ته ولاړ یمه دلګیر
زخمی د ملا په تیر
له سترګو می ځی نم
نه خو ب نه می خند ا شته همیشه د ځا ن په و یر
غو څ شوی یم(۲) په ضمیر
نور مه کو ه ستم

(۱) سده د لعلپوری او (ګل ډاك) ترمنځ دمیلی اوسیل ځای دی.
(۲) شوی یم، شو یم لنډلوستل کیږی

دلبار ته دی ولاړ یمه په شا نته د فقیر
په روی د د ستګیر
چه دی غوث الاعظم

په شا نته د جرس خلکه بند ی شو م په پنجر و کښی
همیش یم په نار و کښی
بندی شوی یم په جال

✻ ✡ ✡

بند ی شو ی یی په جا ل چه کو لی د ی ز ا ر ی
غو ښته د ی ښا پیر ی
خبر نه وی له حا له

په تا می سو ر ی کړ ی میر ګیا د مر ګ مر ی
غږ و ی د غم تو ر ی
چه رامې نه شی خوا له

زما دزړګی سره سخت کارونه و(۱) دیاری
در پیښې شوې خواری
خبر نه و ی له حا له (۲)

---

(۱) د غاښی جمع معاون فعل (وو) د یوه درانه (و) په شکل له مخنی کلمی له پای (نه) سره په پیښ تړ ل کیږ ی که نه یو ه څپه په بیت کښی زیاته راځی . چه داقول ترخیم او ترانسکر یشن یوازی د شریف په اشعارو کښې نه بلکه د ننګرهار په زیاتو نالوستو شاعران کښی دود دی او لهجوی خصوصیت ښیی .

(۲) که څه هم دا مسره دایطاء په شکل تکرار راغلی مګر ښایی چه د شاعر سهو نه وی او زما به خیال به داسی وی : خبرشه له جنجاله ؟

راځه چه دې انعام کړم د سینو په منا رو کښې (۱)
اوس ګر ځه منجرو کښې
پټ شوی و و په شال

✻ ✿ ✿

خاوند دې په خیر راوله چه و دې نم یو ځل (۲)
غمو نو کړم جلبل
چه خلاص شم له هجرانه
که ستر ګې می شوی سپینې لارې ګورم د کابل
سو الو نه کوم تل
سخی می اکبر خانه
هغه سات چه راپه زړه کړم چه به ناستاوو په بورجل
په ورو ورو به موخندل
رامدد شی پهلوانه
که یو ناڅاپه غږ شو چه خان راغی په سپرو کښې
په غبرګو نغارو کښې
«شریف» کوی داسو ال

---

(۱) دامسره همداسی اور یدل شوی ده داسی بر بښی چه څه او ښتنه پکښې راغلی وی .

(۲) داوروستی بند دلعلپوري دخان محمد اکبر خان په ستاینه کښې ویل شوی دی وایی چه نوموړی په شاعرانو باندی ډیره پاملرنه کوله اود هغې سیمی شاعرانو ته یی بښنی کولی استاد شریف دخان په وړاندی دملك الشعراء هو مره درناوی درلود .

استاذ شریف په دی چار بیته کښی خپله هنری طبعه ښه از مویلی ده ښه انځور مانوس او خواږه لغات دقافیو لګول او سرتر پایه روانی دده په یوه ځانګړی سبك دلالت کوی . ددی شاعر بله شعری ښیګڼه داده چه ډیر لږ په خپلې محاوری او لهجی پسې ځې او د معیاری پښتو خیال په پوره ډول ساتی دمثال په ټوګه ددې پورتنۍ چار بیتی په یوه قافیه کښې منجری راغلی حال داچه دلعلپوری په لهجه منجری نه ویل کیږی .

لکه ښاغلی جرار چه په خپله لیکنه کښی یاد ونه کړی او دیوه نوی آهنګ دراویستلو حق یې ورکړی دی زه هم د اویلای شم چه په لفظی اومعنوی لحاظ دیو حوندور اولسی سبك خاوند دی .

دخپلواکی جګړه

استاذ شریف دیوه اولسی شاعر په ټوګه خپل چاپیریال تل په نظر کښی نیولی دی دزمانې کومې ناخوالی او نادودې چه لیدلی دی هغه یې په شاعرانه انځور کښی راوستی اودعشقی ترانو غوندې یی پرې دپښتنو دیرې او حجرې سندریزی کړی دی . په هماغه شپو ورځو کښی چه پر پښتنی خاوره دغلیمانو یرغل راغی اود هیواد دنومیالو واکمنو په لار ښوونه پښتنو ځلمیانو له هری خوا په استعماری پوځونو دندو کارجوړ کړه دلعلپورې خوږ ژبی شاعر دخپلی سیمی زړه دردوونکی ننداره په خپلو سترګو لیدلی اوداسی یی ورته د شعر جامعه ورپه غاړه کړی ده چه کټ مټ یومو رخ لیکلی وئ چا چه په رښتینی سره دخپل وطن اوقام په ننګ ملاتړلی ده هغه یې ستایلی دی اوچاچه له دغه ستر ناموس سره خپل ناوړه غرضو نه ملګری

کړی دی هغه یی غندلی دی . دشهادت او غزاله ستاینی سره یې اسلامی او پښتنی جذبی نغاړلی او په یوه روان شعر کښی یی دهیواد په ختیځو پولو د پښتنو او انګریزانو خونړی جګړه په دی ډول بیان کړی ده:

له هند وستا نه کا غذو نه راغله(۱)
امیر صاحب ته پر یا د و نه راغله
نن مې جګړه ده له کفا ره سره
بیلتون مې نه پریږدی له یاره سره

✿ ✿ ✿

امیر صاحب د جنګ اختیار و کړ
د عزا نیت یې په تلو ار وکړ
سپه سالار یې (۲) مقرر کړلو
پروت په ډکه ټینګ یې خیبر کړلو
سپه سالار روتا ړه لا م و ر پسی
په هر ه ور ځ را ته ګو دام ور پسې
پو ځ یی کم میخز ین یې ډ یر و
خلکه حسا ب له حد ه تیر و
په ښکار غلی پلټنی پریو تلی
له انګریزانو سره کښیو تلی
ورځ دجمعی وه چه جاز ونه راغله
امیر صاحب ته پر یاد ونه را غله

(۱) هغه لیکونه یادوی چه دهنداو لري پښتو نخوا مسلمانانو امیر امان الله خان ته رالیږلی وو .

(۲) سپه سالار صالح محمد خان

یو څو ګولی (یی) کړی ګوزار خلکه
په ډکه یې جوړ کړ دند وکار خلکه
مړی زخمیان پراته بی شماره سره
نن می جګړه ده له کفا ره سره

✡ ✡ ✡

سپه سالار یوه چره وخوړه — خلك په پو نده یی خره وخوړه
په ستنه سپور شو په موټر باندی — پوځ یی پر یښود په خیبر باندې
پوځ یی ښه په خیبر جنګ وکړ — بی شماره قتل یی د پیر نګ و کړ
نه یی راسن نه یی میخزین ورته — نه یی رساله نه یی تا بین ورته (۱)
دغه جر نیل برګډ په څمڅ کښی ناست و
خلکه دوی دواړه دغره ترڅ کښی ناست و
په اسلام څنګه پساتو نه راغله — امیر صاحب ته پر یا دو نه راغله
یو څو کسا ن یی څو کید ار و — چه په میخز ین کښی پیره دارو
تالان یی پوری کړ دواره سره — نن می جګړه ده له کفا ره سره

✡ ✡ ✡

چه دغازی (۲) مال یی تالا کړ — نفس وشیطان یی پر ی پخلا کړ
نه به پری موړ نه به سود من شی — نه به په دې با ندې ښا د من شی
چه مال یی یو وړ د پاچا خلکه — ما و لید ه چه و ړ هر چا خلکه
اسلام په هغی ورځی سپك شو — مال (۳) یو تر بله اتبار ورك شو
دګل په ورځی دا کا پر راغی — ما و لید ه چه په خیبر را غی

(۱)
(۲) غازی امان الله خان
(۳) مال = ماو یل

په ډکه دار نګه ګردونه راغله امیر صاحب ته پر یا دو نه راغله
یوخو کسان یی لاس په نام ورغله ښه می لیدل چه لاس په نام ورغله (۱)
بندیان یی بوتله له زناره سره نن می جګړه ده له کفاره سره

✡ ✡ ✡

په برخیبر (۲) کښی رسالی ووتی د پر نګیا نو خر ګلی وو تی
چه له ګردی زیارت نه تیر شو داسلام پوځ تر پ نه چا پیر شو
دخدای رحمت په دی برګټ شه د ده نصیب حوری جنت شه
ښکته رامخی یی کړ پیر نګ ډ پر ور خطا یی کړ په جنګ
بره چونی (۳) کښی راایسار کړل په یوځای یی ټول مر دار کړل
غازیان له پاسه پری بازونه راغله امیر صاحب ته پر یادو نه راغله
مسلمانان چه شهیدان شول په کتا بو نو جنتیان شول
نصیب به (یی) شی درب دیداره سره نن می جګړه ده له کفاره سره

✡ ✡ ✡

ملاصاحب (۴) ورته ډیره ونیوه په هزار ناو کښی یی ښکاره ونیوه
دوهم ماسل (۵) ورسره مل و انګریز د دوی له لاسه دل و
دخدای رحمت دی په مومندوی دوی دی په هرځای سر بلند وی
مخلوقه دری میاشتی (یی) جګړی کولی
په انګریز انو به (یی) داړی کولی

---

(۱) ددی مسرې تکرار ممکن په خپله له شاعر له خوا نه وی شوی .

(۲) برخیبر ، کحکی خیبرته وایی چه دډکی اوګردی ترمنځ پروت دی .

(۳) دامیر شیرعلیخان دوختو چونی چه له لعلپوری نه دی غاړه وه چه هغه ځای ته اوس شیرآباد وایی .

(٤) دچکنور نومیالی اومجاهد ملا صاحب .

(٥) دمومند مشهور غازی مرحوم ماسل خان .

په انګریزانو یی بل اور کړ ملك یی ددوی له پا مه تور کړ
ددوی په کور دغم بادونه راغله امیر صاحب ته پر یادونه راغله
څوك چه په نیت د غزا لاړ شی محض د خدای په رضا لاړ شی
عمر به (یی) ټول شی له ګلزار سره نن می جګړه ده له کفاره سره

✲ ✲ ✲

له هر وطن بی کړه راغو نډ په دی سر بند کښی یی کړه پنډ
اوس ښیم ګو دا میان ډیر پری خوشاله شول هندوان
یو څو کسان په کوز مالت کی (۱) چه همیشه په دوی نالت کی (۲)
په برمالت کښی شته دی نور لکه تبی مخو نه (یی) تور
څوك چه کومك دانګریزانو کوی په هغه حکم دوا بیانو کوی
زما په زړه باندی دردونه راغله امیر صاحب ته پر یادونه راغله

شریف له خپل خدای نه ایمان غواړی
اسلام ترې واړه په امان غواړی
داتخت وبخت دې برقراره سره (۳) نن می جګړه ده له کفاره سره

راشی داستاذ شریف دمینی رندانه خبری هم وګوری چه څنګه یی په یوه خوندور انداز کښی سره پېېلی دی، دمینی ښکلا او سینګار په څومره خوږو الفاظو اوقافیو ستایی او بیا له مینی سره د مینی سوال او ځواب رااخلی، خپل زړه ته په خپله ډاډور کوی. دخپال په قافله کښی خپلې لیلا ته ځان رسوی او بیا چه له استغنا سره مخا مخ شی لوی ځوان ورته رویدار وی :

(۱) له کوز مالت یا محلت نه مراد دلال پورې لره خواده چه شاعر یی غند نه کړی ده.

(۲) (نالت کی) (لعنت کړی) مرخم شکل دی.

(۳) دوخت پاچا ته یی اشاره کړی ده.

یاد دلبر وګو نګرو شوردی یا سیل د بلبلو ځی
تور یې اور بل په وریځو خوردی شاه په سیل د ګلو ځی

✲ ✲ ✲

نن مې دلبر کړ ځان سینګار سیل خو د باغچی کوی
زلفی دیی په مخ کړی تار په تار رنګ په رنګ غونچی کوی
تور لو نګین یې څو کیدار سینه باندې چړچی کوی
ور پسې جوړ دغم ټکوردی
جنګ ته دمنګلو ځی (۱)

✲ ✲

غوردې وکړه د خپل ځان ولی کوی شور ګله
زما دسر و شونډ و پیز وان ډېر سوی په اور ګله
ځان دی ستې کړ په هجران رنګ دی سوی سکور ګله
دحسن غږ می په هر لوردی
تخت مې د مغلو ځی

✲ ✲ ✲

دشا هجهان دپا چا لورې زه دی کړم کباب جنۍ
داسی ښایست نشته د حوری مخ لری ګلاب جنۍ
داسی ښایسته په ګاڼه پوری لری کړه نقاب جنۍ
په زړه می خښ د بیلتون لوردی
بوی ترې د سنځلو ځی

✲ ✲

(۱) څنګه چه دمنګلو جګړه دشاعر په زمانه کښې تیره شوی مه دی امله یی تلمیح کوی .

هلکه زړه دی په کرار کړه سره لاس په اتر نګ زما
رب دی زما ددخولګی یار کړه را شه په پا لنګ زما
واړه غمونه تار په تار کړه په سینه لو نګ زما (۱)
له موزیګی نه مې زړه توردی
بوی تري د ناو لو ځی

✡ ✡

شریف دا ستا د در فقیر دی وا یی خله خبر صنم
ډېر وار خطا ولاړ دلګیر دی و کړه پری نظر صنم
دی خاص مرید ددستګیر دی په اولیا سر ، صنم (۲)
شعر یې په هر وطن کښې خوردی (۳)
ځکه په غز لو ځی

د دنیا غندنه

استاذ شریف د ځینو پښتنو متصو فینو شاعرانو او په تیره د رحمان بابا دافکارو تر تاثیر لاندی راغلی دی د دنیا غندنه او ګوښه والی، چه د تصو فی افکار و زیږنده ده ، دده د غز لو برخه یی په خاص ډول تر اغیز لاندې نیولی ده او داوس شاعرانو په اصطلاح د مقامونو او رباعی ګانو خوایی همدې مضمون ته ده دادی د دوه مخنیو غزلو په څیر دا غزل هم وګورئ:

زړه ونه تړی په دی دنیا نیمګړې
بی وفاده وایه چا ځان سره وړې

(۱) پر (په) باید زور وا چو ل شی چه د شعر آهنګ نقصان ونه مومی.
(۲) (په اولیاء سر) له مخنی مسری سره اړ یکه لری صنم د مخا طب په شکل پوا زی راغلی دی.
(۳) شاعر انه غرور او ویاړ نه ده

پخوانی یاران زما په زړګی راغلل
په سپین مخ مې اوښی زاغلی لړی لړی
آشرین یاران می کړه دخاورو لاندې
بی وفاؤ می زړګی کړدړی وړی
د دنیا په کار کښې شین منزری ګرځی
دمانځه په وخت کښې پټ ګرځی ګیدړی
په چمن کښې د بیلبلو شور ماشور شو
دتوتیانو له خولی وختی لوخړی
هغه باد چه دشمال له ډډی راشی
ورانوی به دغه غټی مانۍ لوړی(۱)
شریف مرګ دشهید ګی ورځنی غواړی!
ځنکدن کښې می ملکی نه کړې ستړې

په پور تنی غزل کښې برسیره پردې چه دغندنی او ګوښه ګیری مضمون یی راخستی دی دشعری انسجام اوپخوالی له پلوه دپاملرنی وړدی دسوچه مانو سولغاتو او خوږو محاورو استعمال اوبیادیوی تنګی او محدودی قافیی ترسره رسول د شاعر له میزه صفا توخخه ګڼل کیږی چه سره ددی چه دفکر اومعنا په لحاظ دپخوانو تر اغیز لاندی راغلی دی مګر دخپل مخصوص سبک او آهنګ خصوصیات یی له لاسه نه دی ورکړې .

یوه بګتی

دادی په پای کښې داستاذ شریف دملی آهنګو یو بدیعی او په زړه پوری بیلګه ولولی .

(۱) داسی عقیده چه کله دنیا اخره شی دشمال له لوری توفان راالوزی اوهنګوی بې

نن می ولید دلبر په سینګار کښې هغه دم یې ستی کړم انګار کښې
داستا په زلف په شونډو قلف ـ شوم بند یو ان
ته به ماله دې ژوندہ بیزار کی (۱)
هغه دم یې ستی کړم انګار کی

✡ ✡ ✡

راشه نګاره دخدای دپاره، و اخله خبر
پروت اوتر ـ غوڅ ځیګر ـ ستاد لبار کی
هغه دم یې ستی کړم انګار کی

✡ ✡ ✡

ځان کړې سنبال ـ اور بل کړې جال ـ زلفی شانه
داسی نشته بل ګل په بهار کی
هغه دم یی ستی کړم انګار کی

✡ ✡ ✡

حوری غلمان ـ کوی ارمان ـ ستاد جمال
رانګاره چه شین خال شغله دار کی (۲)
هغه دم یی ستی کړم انګار کی

✡ ✡ ✡

ځای مې لال پوره ـ نه مشهوره ـ خوږ می سخن دی
زما نوم دی «شریف» که اختیار کی (۳)
هغه دم یی ستی کړم: انګار کی

---

(۱)، (۲)، او (۳) کی د نورو ردیفو کلمو غونډی ظرف نه دی بلکه د فعل (کړې) یعنی د دوهم یو د شخص دپاره استعمال شوی دی.

دډراموایکنه

ډراما ؟

دپورته عنوان په څنګ کښې سوالیه دهغه کیفیت نمایندګی کوی چه دډرامې دنوم دارویدوسره سم هغه کیفیت زموږ په ذهن کښې پیدا کیږی ، له دې سوالیې څخه ډرامې دهغه بنیادی خصوصیت داندازی اټکل هم کېدلای شی چه موږ دغه خصوصیت د راویښوونکی اوبیدارووونکی په نامه یا دولای شو ، دا یو منل شوی حقیقت دی چه په کوم ځای اووخت کښې چه دادب نور صنفونه دهرې موضوع دپیژندنی اوویش په لحاظ جلاجلا طریقه غوره کوی په دغه ځای کښې دډرامې انجام د موضوع په خصوص کښې تحیر یعنی د نندارچی په حیرانتیا کښې اچول دی په دې ترتیب چه د ډرامې د شروع نه تر پایه پوری د ډرامې دلوستونکی په ذهن دواقعاتو اوحادثو لوی لوی کمرونه رانږیږی ، که څه هم لیکونکی په خپله لیکنه کښې ددغو پیښو او واقعاتو د ټولو غوټو او مشکلاتو دحل اوپرانستلو دپاره کوښښ کړی وی مګر سره ددې هم دلوستونکی په زړه کښې څه ناڅه لږه ډېره سوداپاته کیږی ، له دې کبله ډراما خپل لوستونکی بیخی نه مطمئن کوی بلکه خپل لوستونکی ناآرامه کوی او په سوداکښې ئې پریږدی ډرامادژوندانه د ښکلی مخ څخه د لږ ساعت دپاره دپلویوه څنډه پورته کوی مګر دغه لږ ساعت ددیدن په

جرم کښې ئې دتل دپاره دحسرت او حیرت داور په بلو لمبو کښې ناکراره پریږدی مګرسره ددې ټولو خبر وچه یوځل دغه ښکلی مخ ووینی نوتل ئې د بیالید لو هیله په زړه کښې ساتی.

ډراما او تیاتر:

دا ځکه چه ډراما په حقیقت کښې دکتاب شی نه بلکه داسټیج شی دی ډراما یوازی دمضمون د لیکلو څخه عبارت نه دی بلکه دننداري اونمایش څخه عبارت دی همداسبب دی چه ددې فن د پوهانو په فکر تماشا توب دډرامې په پلوا ورګونو کښې یوساری او مؤثر شی دی او دا یکټنګ د ټولو نزاکتونو څخه دډرامې تنسته او بوده جوړیږی، دپښو نښانی دتګ انداز - دوینا ادا او دکردار ښیوه دډرامې ټول حرکتونه مستقیم او سره تلل شوی او برابر نه شی کیدلای او په قدرتی ډول په دغو حرکتونو کښې کمی زیاتی او لوړوالی او ټیټ والی یوضروری او لازمی شی دی؛ دډامې کردار د خپلی بقا دپاره تصنع او نمایش ته اړ او مجبور دی.

دډرامې خصوصیات:

دادب دنورو قسمونو او صنفونو په مقابل کښې دډرامې حیثت ډېر تنګ او چست دی؛ دډرامې دټولو نه ډېر لوی او مهم خصوصیت لنډیز دی یا په بل عبارت په ډراما کښې دډیرو مختلفو موادو او مېوو څخه دفکر او ادبی قوت په زور جوهر ویستل کیږی ډراما په حقیقت کښې یوقسم ډېره نازکه کشیده کاری ده او یا په یوه راښکلی جګه بیاسته باندی شعبده بازی او نڅاده حقیقت دادی چه ډراما لیکونکی یل په یوه سکنجه کښې ګیروی او باید دی تل په یوه مزبوته کلا کښې دننه ګیر خپل کار وکړی.

ددې فن پوهان وايي چه د ډرامې په فن کښې د دريو وحدتونو يعنی دوخت ديووالی - دمقام ديووالی - دعمل ديووالی لحاظ په نظر کښې ساتل يو ضروری کار دی؛ په دې خبره کښی شك نشته چه په ډراما کښې د مجموعی تاثر يو والی ضروری دی؛ ليکن ددې تأثر دپاره ددرو واړو وحدتونو يوشان ضروری کېدل ډير مشکوك کار او تر ډېری اندازې دغه کار ناممکن هم دی او دا ځکه چه که تاسی ددې پراخو کائناتو او بدليدونکی زمانی هره څنډه او هره شيبه په نظر کښی ونيسی نو تاسی ته به دا حقيقت په ښکاره ډول څرګندشی چه ددغو ټولو شيانو په يوه نقطه سره راغونډول يوازی ناممکن کار نه بلکه موزون کار هم نه دی او هر ومرو ډرامې لږ وډير جزئيات د ليکونکی او عملی کوونکی د قدرت څخه د باندی پا ته کيږی، دا ضروری خبره ده چه ترڅو چه ممکنه وی بايد دوحدت له اثر څخه د نه و تلو پوره کوښښ وکړای شی او دا ځکه چه په ډراما کښی دا ثر تنوع نه شی ځائيدلای او په دې صورت کښې د طبيعت د شيرازې دخپريدلو امکان او بيره پيدا کيږی او په فنی لحاظ دغه کار د ډرامی دناکامۍ دپاره يو مؤثر عامل دی.

په حقيقت کښی په ډراما کښی مهم کار دلوستونکی پام او توجه په يوه موضوع باندی محکم ساتل دی، ددې مهم مقصد دلاس ته راوستلو د پاره د ډرامې د ليکونکی څخه ډېره مهمه او مؤثره فنی وسيله کش مکش دی همدا کش مکش هغه يوازی عمل دی چه دهغه په مرسته دډرامې ابتداء او ارتقاء دواړه دسټيج په مخ را څرګنديږی او دهمدې کش مکش د خلاصېدو سره سم ډراما هم پای ته رسيږی او دا ځکه چه ډراما په حقيقت کښی دهمدې دوو مخالفو عناصر و

دیو بل سره د جنګ او مقابلې او کشي مکش دوهم نوم دی؛ د دې کش مکش ننداره او د دې کش مکش په شا او خوا کښې تحیر او لټون د لوستونکی ټول فکر او پام ځانته راکاږی؛ د دو کردارونو په منځ کښې دغه کش مکش په عمومی ډول د دې فن په اطلاح کښې په «هیرو» او «ولین» ښو او بدو نومونو یا دیږی- حال دا چه حقیقت په دومره ساده شکل کښې نه څرګندیږی نه هیرو ټول خیروی او نه «ولین» ټول شروی. په عمومی ډول خلک دا فکر کوی چه «هیرو» د نړې د ټولو خوبیو او ښو چارو مجموعه وی. نو په دې اساس که د ده داستان (المیه) د بدانجام سره مخامخ شی نو د دغه کار ټول مسئولیت د «ولین» (د مقدر شیطانی ایجنټ) په غاړه وی لیکن حقیقت دا دی چه د شر طاقتونه د هیرو په ظاهر وجود نه وی بلکه د هغه به وجود کښې پټ او دننه وی؛ سره د دې ټولو صفتونو کله کله د انسان د کردار ځینی فطری نقص هم انسان ځینو داسی لغز شو نو ته تیاروی چه همدغه لغز شو نه د هغه د مقدراتو د خرابۍ سبب کیږی- د خیر او شر دواړه قوتونه په انسانانو کښې ایښودل شوی دی او دینه و روسته د تقدیر خاوند خلکو ته ښې او بدی لاری هم ښکاره او څرګندی کړی دی- نو اوس دا د انسا و د کردار از یښت دی چه دی ځان د پاره کومه لار خوښوی مګر په هره لار چه ځی هم هغه شان مقصد سره به دی مخامخ کیږی او هغه مزل ته به رسیږی لکه چه دا مضمون یو شاعر په نظم کښې ځای کړی دی چه مطلب ئې دا دی:

د عمل نه ژوند جوړیږی هم جنت او هم دوږخ
دا خاکی په خپل فطرت کښې نه نوری دی نه ناری

لکه چه د مخالقو عناصرو په منځ کښې د کردار صحیح ویش دا سی

ټاکل کیږی چه «د پلاټ» دارتقادپاره یو موافق عنصر (Protagonist) وی چه دغه عنصر ددې خبری کوښښ کوی چه قصه دیو ښه انجام خوا ته بوځی او ددې په عکس یو بل مخالف عنصر (Advevsary) وی چه دغه عنصر ددې خبری کوښښ کوی چه قصه ښه انجام ته درسیدلو څخه منع کړی . موافق عنصر په ښه لار دواقعاتو ارتقاء غواړی او ددې په خلاف مخالف عنصر بیا پیادارتفامخه نیسی او دا کوښښ کوی چه دارتفاء دلاری څخه هغه راوکرځوی یا په بل عبارت لو مړی عنصر دربطاوآهنگ دپاره کوښښ کوی او دوهم د بې ربطی اواتشار دپاره

درامائی طریقې :

ددې ډرامائی کش مکش د منځ ته راتللو دپاره دوه خارجی قوتونه یعنی «دتوازی» او «تضاد (Parallelismandcontrast) طریقې هم اختیار کولای شی یعنی کله کله په پلاټ کښی دضروری پیچیدګیو دراپیداکولو دپاره قصه بیرته راغبرګیږی او داصل ماجراسره ددې ماجرا په سیوری کښی یوه بله پټه ماجرا هم شروع کیږی چه په دې لړ کښې خو کله کله ددواړو ماجراګانو نوعیت یوشان وی او دیو قسم څخه دوه قصې په لویه او کوچنۍ پیمانه کښې دواړه سره یوځای چلیږی ، وړه قصه دیویی قصې په عکس کیږی او دلویی قصې دتأثر کړی او حجم لویږی او په دی ترتیب دغه دواړه قصې سره یوځای او دیوې بلی سره ګډیری اودیوې بلی سره مرسته کوی ددغه ګډون په نتیجه کښی دغه کار د یو داسی فنی پیچیده ټوکر په جوړ ولو کښی بریالی شی چه په دغه ټوکر کښې دکش مکش اولاس وګریوان کیدو ښکلی کرښی هم را پیدا شی چه په نتیجه کښې په دغه ساده ټوکر کښې یوه په زړه پوری ښکلا او نا آشنا کیفیت را پیدا

کړی ددې په خلاف کله کله ددواړو ماجراگانو نوعیت دیوې بلې څخه بیخی مخالف وی او دواړه قصې د یوې بلې سره د جګړې او مقابلې په حالت کښې سره یوځای چلیږی او د دې دواړو په منځ کښې داتفاق د نقطې په ځای ور وور وداختلاف نقطه په واضح ډول څرګندیږی په دی صورت کښې ددې کار نتیجه داشی چه ډرامې ددلچسپۍ اوخوند سره یوراز تنوع هم ملګری شی مګر د فن په لحاظ ددې کار په نتیجه کښې په ډرامه کښې پراګندګی دومره ډیره شی چه کله کله دد غو بلیو بیلو تو کورا ټولول اوسره رایوځای کول یوازی ګران نه بلکه یو ناممکن کارشی، له دې کبله دتضاد د طریقې صحیح او داسی مصرف چه نتیجه ورڅخه واخیستلای شی دیو نه په زیات پلاټ کښې نه وی او په یو پلاټ کښې یقینی وی په دې داخلی صورت کښې تضاد د ډرامې اشاریه اوبا وسله وی؛ یعنی له دې کار څخه مطلب هغه تنوع ده چه دغه تنوع د نیک اوبد داختلاف، دابتدء او انتها د بېلتون، دپټ او ښکاره دفرق، او امید اوویرې دامتیاز څخه پیدا کیږی او په دې صورت کښې دتضاد اوکش مکش دوه متضاد لفظونه په معنی کښې سره یو کیږی لکه چه په ډراما نګاری کښې د تمثیلی طنز ډیره مهمه وسیله (Dramatic Irony) په همدې تضاد بناده په پراخه معنی دهمدې یوشی په دوو اړخونو کښې په پرق سره تعبیر کېدلای شی دادوه قسمونه لری چه یو ته ددې فن په اصطلاح کښې لفظی اوبل ته یې احوالی ویل کیږی دلفظی طنز وجود په عمومی ډول ددوو کردار ونو په منځ کښې دمکالمې په داسی الفاظو اوفقرو کښې اداکیږی چه هر کله دکردار خاوند ان په دغو مشترکو الفاظو خبری کوی نو دهغو دمعنی اومطلب اوعملی نتیجې څخه یو اویا دواړه بیخبره وی لیکن لږ وروسته همدغه الفاظ دیوې

داسی معنی په ورکو لو پیل کوی چه دغه معنی خلکو ته یو نوی انکشاف ښکار یږی .

احوالی طنز په عمومی ډول په هغه وخت کښی په کار اچول کیږی چه په دغه وخت کښی کردار ته دخپلو موجوده ؤحالاتو صحیح اندازه معلومه نه وی دی دیو ښکلی باغ خواته روان وی مگر په ناڅاپی ډول یو کړنگ ته ور غور ځیږی یا په بل عبارت په عین دغه وخت کښی چه د کردار خاوند دمقصود ګل ته لاس اوږد دوی ناڅاپه ور باندی یو مار پېښیږی اوداسی ئې چیچی چه رڼاورځ ور باندی توره شپه کوی .

دپورته ذکرشویو وجوهاتو په بنا دراما دتحیر رمز او ستر ګګ دمختلفو کړیو دیوداسی اوږد ځنځیر نوم دی چه لوستونکی او نندارچی کوونکی ورڅخه دیوې شیبی دپاره هم ځان نه شی غافل اوبې علاقې کولای اود اځکه چه که دغه لوستونکی اویا کتونکی ددغه ځنځیر مختلفی کړی دپوره دقت او مطالعې لاندی و نه نیسی او په مسلسل ډول دپېښو هر ډول لوړو ژوروته پوره ځیر نه شی ترهغې دی دډرامې په پوره حقیقت نه شی پوهیدلای ، حقیقت دادی چه دډرامې لیکونکی یو دریاب په کوزه کښی ځای کوی اودی په خپل مضمون کښی دتفصیل او تشریح حق نه لری همدا سبب دی چه دډرامې لیکونکی په ځای ددې چه معاملات مفصل بیان کړی هغو ته داشارو څخه کار اخلی او بله خبره داده چه دی له دې کبله چه ځای نه لری واقعات او معاملې په یو خاص ترتیب او تنظیم خلکو ته وړاندی کوی .

دډرامې یو یو پلاټ دتار و نو دیو غونډاری اویا د پیاز دیوې غوټې مثال لری چه دیو تار لاندی ئې بل تار او دیوې پاڼی لاندی ئې بله پاڼه راوځی اوددې ټولو خبرو نتیجه داده چه کردار او خبری هر

وخت دلټون اوحیرت په فضا کښې پټې وی اوپه حوا سود بې یقینۍ یو کیفیت احاطه کړې وی اودډرامې دلوستونکی اوکتونکی ذهن د امید اوویرې په کش مکش کښې ګیروی اوپه دغه وخت کښې کله کله دډرامې دلطیفې پردې څخه دیوې علامتی هیولا شکل جوړشی.

ډرامې هیئت:

په عمومی ډول په ډراما کښې دپلاټ ارتقاء پنځه مرحلې لری؛ په لومړۍ مرحله کښې دیوې ابتدائی حادثې اویا حادثو څخه قصه شروع کیږی اوپه دوهمه مرحله کښې دپیښو رنګارنګ صورتونه دیو بل سره لاس اوګرې یوان کیږی اومعامله په یو ډېر پیچیده شکل د پیچدګۍ خوا ته مخ په وړاندې ځی او د حالاتو عوټې ساعت په ساعت کلکیږی ، دپیچدګۍ په دې منزل کښې مسئلې ډېر ښاخونه پیدا کوی اودحل لاردخلکو څخه ورکیږی .

په دریمه مرحله کښې یعنی دډرامې دعروج په حالت کښې چه معاملات ډېر پیچیده شکل غوره کړی اودغه پیچیدګی خپل انتهائی حد ته ورسیږی اودقصې ټول عناصر دیو سخت بحران سره مخامخ شی او د اضطراب په عالم کښې حالات ډېر تشویش ناک شکل غوره کړی دحیرانتیا اوپریشانۍ دافضا لوستونکی یا کتونکی دحیرت سره مخامخ کوی اوپه دې لړ کښې دواقعاتو سفر دوه لاری اویا څلورلاری ته رسیږی اوانسان درازونونه ډک یو مبهم کیفیت سره مخامخ کیږی .

په څلورمه مرحله کښې دډرامې کیفیت مخ په پورته ځی اویا راکښته کیږی اودډرامې حرکت یو طرف ته میلان پیدا کوی دواقعاتو له مخ څخه ورو ورو پردې پورته کیږی او حالات یوې خواته روانیږی چه دې کارته ددې فن په اصطلاح کښې دعمل زوال ویل کیږی په دې

وخت کښې دواقعاتو انجام د اټکل اوقیاس وړ کیږی اود واقعاتو په رفتار کښې کوم نوی پیچومی نه لیدل کیږی اوخلك یوازی د پړاو انتظار کوی او پړاو هم ډېر نژدی معلومیږی .

په دی وخت کښې دلوستونکی یا نندارہ کوونکی د لټون دوره لږه ډېره پای ته رسیږی اوورودحیرانتیاځای خبر تیا نیسی .

په پنځمه مرحله کښې دقصې ګاډی د یو سپك ټکان نه وروسته دریږی اوستړی ستومانه مسافر دنندارې دګاډی څخه کښته کیږی او دآرام تکل کوی .

ډرامایی عمل له دی پنځو مرحلو څخه وړاندی یوه بله سطح هم لری چه دغی سطحی ته مونږ په اصطلاح کښې پس نظر هم ویلای شو اوداځکه چه دعمل دآغاز دپاره په هرحال ځینی محرکات وی اودا ځکه چه کومه یوه حادثه اویا قصه بی دځینو مخصوصو حالاتو او محرکاتو څخه میدان ته نه راوځی بلکه دشا اوخوادحالاتو اومحرکاتو څخه راپیدا کیږی لیکن داخرګنده خبره ده چه دشا اوخوا حالات دیوې حاشیې حیثیت لری یعنی داصل متن څخه دباندی شی وی .

د ډرامی ددې شکل اوهیئت دتوضیح دپاره مونږ په لاندی کرښو کښې ګرانو لوستونکو ته دعمل دارتقا په خصوص کښې یوه اقلیدسی نقشه وړاندی کوو .

دعروج

دعمل زوال ۸ ج پیچیدګی

ی ب پس منظر

انجام ابتدائی حادثه

دواقعاتو دترتیب دانقشه دیوعمومی اصول په ډول وړاندی کیږی .

هر منفرد فنکار دخپلو موادو او دخپل ذوق او قریحی سره سم اول په خپل فکر کښی دهیئت یوه مخصوصه هیولا تیاروی مگر دا خبره ضروری نه ده چه دهغه نخشه دی زمونږ ددی فرمایشی سره ارومرو سمه او برابره وی او دا ځکه چه دی په تغیر او په تیره بیا د مرحلو په تبدیل کښی پوره اختیار لری .

دډرامی قسمونه :

مونږ ډراما دجوړ بنت او دنظر دانداز په لحاظ په دوو څرگندو قسمونو وپشلای شو چه یو قسم یی کلاسیکی او دوهم یی رومانی دی لومړی قسم یی یو مثبت او ټاکلی صورت دی چه په دغه صورت کښی په ډراما کښی دځوټاکلو ضابطو پابندی یو لازم او ضروری کار دی او کوم اصول او ضابطې چه ددې فن پوهانو ټاکلی دی او کوم رسمونه او روایتونه چه ددی فن داستاذانو څخه رانقل شوی دی دهغو څخه تیرې کول او پښه اړول دفن داستاذانو او پخوانو پوهانو د مقرراتو له مخی یو ناروا کار دی، په دغه قسم کښی لیکونکی په دغه پخوانی جوړ شوی تیار قالب کښی دخپل فکر مواد اچوی او دهغه قالب سره سمی نوی نوی نمونې خلکو ته وړاندی کوی دغو پخوانو استاذانو دفن کار دذهنی یو مخی دپاره داسی صفالاری جوړی کړی او داسی صحیح اصول یی ټاکلی دی چه دفن خاوند وربانده په پټو سترگو بی دکوم خطر څخه خپل مزل او پیړاوته رسیدلای شی .

په دی ترتیب دمجنون ځان دفکر او فن ددوو ډولو عذابونو څخه دیو عذاب نه خلاصیږی او دبل عذاب د گالمو دپاره ځان تیار وی همدغه راز دروایت او انفرادیت په منځ کښی یوه معاهده غوندی کیږی . په دی ترتیب چه دډرامې اړاونه (ډیزاین) دلو مړی یعنی

روایت لهخوا تیاریږی اودوهم یعنی انفرادیت یوازی د ډرامی میټریل برابروی په کلاسیکی ډرامو کښی دری گونی وحدت اود پلاټ دمرتبی نقشی پیروی ډیرضروری اولازمی کاردی. همدغه رازهغه شی چه دډرامی د عمل سره تعلق نه لری لیکن دډرامی دموضوع سره دیو منظم کورس التزام دی. داشی یوه داسی آله ده چه که څه هم په انسانی افعالو کښی په خپله گډون اوشرکت نه لری مگرسره ددی هم په ډراما کښی دگډون کوونکو دحرارت درجه تل خلکو ته څرگندوی.

دکلاسیکی ډرامی دروایتی ټینگار په مقابله کښې رومانی ډراما داظهار یوه تجرباتی ذریعه ده، په دی ډول ډرامو کښی ټول زور دټاکلو اصولو د پیروی په ځای په نوی والی او ابتکار باندی وی مگر په دې لړ کښې دډرامی لیکونکی ددې خبری کوښښ هم کوی چه خپل انفرادیت د ډرامانگاری په فنی سطح ټینگ اوثابت و ساتی اوددې کار دپاره دوی دامعقول عذرهم وړاندی کوی چه دتخیل هریو پلان دخپل ځان دڅرگندولو دپاره خپله نقشه په خپله جوړولای شی او داځکه چه دنوی فکر توندی او تیزی زړې هینداری یعنی د ښیښو پخوانی صراحیانی ویلی کوی اوپه خپل نوی مخصوص رنگ ئې رنگوی باید منفرد فن کار په خپله معامله کښې بیخی آزادوی چه هغه ددې کار په اثر خپل روح په یوداسی مزاج کښې چه ددغه جسم سره موافق اوبرابروی واچولای شی؛ دروایت حدونه دزیات نه زیات په هیکل کښې منل کېدلای شی لیکن دغړودترتیب اوتناسب حق یوازی دپاك خدای دپاره مخصوص دی. لکه چه رومانی ډراما لیکونکو د دری گونی وحدت کامل متابعت ځان نه دی لازم کړی په تېره بیا دزمان اومکان په سلسله کښې همدغه راز دغو خلکو «کورس» هم یوزیاتی شی گڼلی دی اوډیرودغه

شی بیخی پرې ایښې دی، که څه هم له دې انفرادی ازمیښت څخه په ابتدأ کښې لږ وډېر انتشار ضرور پیدا کیږی لیکن د روایت دار تقأد پاره دا کار یو ضروری شی هم دی او همدا سبب دی چه د نن د تجربې څخه د سباد پاره روایت جوړ یږی .

ډرامایو بل مشهور تقسیم اوویش هم لری چه هغه په « المیه او تریجدی او طربیه او کامیډی » نوم یادیږی دعامې مفکورې په اساس المیه دهغې ډرامې نوم دی چه دهغې انجام غم او حسرت وی او طربیه دهغې ډرامې نوم دی چه دهغې نتیجه خوشحالی وی لیکن حقیقت دادی چه په ډرامو کښې یوازې انجام ته اعتبار ورکول صحیح کار نه دی او نه داخبره سمه ده چه المیه یوازی ژړاده او طربیه یوازی خندا او خوشحالتیا او دا ځکه چه د ژوندانه اړخونه دومره ساده او بسیط نه دی چه یوې خواته دې بیخی توره تیاره وی او بلې خواته دی بیخی رڼا. د ژوندانه هر یو رنګ دلمر او سیوری دواړو څخه په ګډ صورت جوړ شوی دی دغم ساندی او د خوشحالی بدلی او نغمې په یو وخت کښې د ژوندانه دهنګامې رونقونه دی . مګر دځان پوهولو او د نورو د پوهولو د پاره دو مره خبره ضرور رڼا کل کیدلای شی چه د ژوندانه د کومی نندارې چه عمومی تأثر نشاط وی هغه طربیه ده او د کومی نندارې چه عام اثر تأسف وی هغه المیه ده په هر حال دلطف او درد ګډ او مخلوط احساس په دواړو صورتو نو کښې موندل کیدلای شی او دا ځکه چه د وصال طربیه او فراق المیه دواړو کیفیتونو کښې یو راز له درد څخه ډک لطف او یا د لطف څخه ډک درد محسوسیږی او داله دې کبله چه زموږ د امادی ژوندیو ناآشنا مخلوط شی دی موږ په خپلو سترګو وینو چه له ډیری خندا څخه موسترګې داوښکو څخه ډکې شی او په ژړا ژړا مودزړه څخه د غم

غبار ومینځلای شي، په هر حال د ډرامې داڅلور پخوانی قسمونه د انداز او اداله مخی د اشرافیت «Aristocracy» ښکار ندوی دی او په دوی کښې د مثالیت عنصر ښکاره او څرګندوی د دوی خصوصی کردار د ژوندانه د عامی سطحی څخه جګ او پورته وی د دوی په رفتار او ګفتار یعنی عمل او وینا کښې د امتیازی جګوالی احساس ښکاره او څرګندوی - په دې ځای کښې د شهزاده ګانو او سردارانو د شخصیت پیچ او خمونه سپړل کیږی او په ځینو وختونو کښې د پورته نړۍ په ارواحو کښې مداخلې ته خبره رسیږی.

لکه چه نوی ډرامې پرته له دې څلورو څخه د یو بل نوی پنځم قسم آره هم ایښوولې ده - د ډرامې دې قسم ته ځینی مبصرین کورنۍ ډراما وائی او دا ځکه چه په دې ډول ډراما کښې د کورنۍ ژوند معمولی او عادی روزانه پیښې ښودلی کیږی په دې ډول ډرامو کښې د جنګ د میدانونو او نورو پیښو په ځای د ننداري موضوع کلی او کورونه وی په دی ډول ډراما کښې ټول قوت د حقیقت څرګندولو ته متوجه وی که څه هم دغه حقیقت ډیر کوچنی او بسیط هم وی او په پلاټ - کردار او مکالمه ټولو کښې هرومرو دغه د کور او کلی فضا او چاپیر په پوره دقت سره په نظر کښې نیول کیږی او د دې خبری کوښښ کوی چه د شا او خوا ټول واقعات که څه هم ډیر جزوی او عادی وی خلکو ته په خپل اصلی او فطری رنګ کښې وړاندی کړې د دی پورته مضمون لنډ مطلب دا شو چه د دې مطلب د ترسره کولو د پاره کارکوونکی دې کار ته نه اړ کیږی چه د خپل چاپیر نه لری د باندی بلی خواته ولاړ شی له دی کبله په نو یو ډرامو کښې په اجتماعی مسئلو بحث یو منل شوی څرګند حقیقت دې دا ډول ډراما د کلاسیکی او رومانی او المیه او طربیه ډرامو د ټولو

اداب او رسمونو څخه بيګانه ده؛ داجلاخبره ده چه په ځينو وختونو کښې په دې ډرامه کښې هم ځينې هغه ډول آوازونه اورويدل کيږي او ځينې دحوصلې خاوندان فن کاران په شعوري ډول ددې خبرې کوښښ کوي چه ذپخوانو طريقو ځنې هغه ضروري عناصر چه دوې ورته ضرورت لري په کار کړي په هر حال په نوي ډراما کښې عمل لږ او فکر ډېر او دلاسونو او پښو دامتحان کار لږ او ددهن او دماغ ورزش ډېر زيات ي د په دې ډول ډراموکښې دغړو په ځای خيالونه او فکر کار کوي اوله دې کبله ځينې خلك نو يو ډراموته دمسئلو (پرابلم) هم وائي او دا ځکه چه په دې ډراموکښې قصداً اجتماعي مسئلې وړاندې کولای او ښوولای شي .

په ډراما کې شخصيت :

دډراموديکلو په لړ کښې وروستې مسئله دفن کار دشخصيت مسئله ده ډراما دادب يوخالص معروضي صنف ښکاريږي او په دې کښې فن کار ته ددې خبرې موقع په لاس نه ورځي چه په خپله خپل ذات او ځان ښکاره او څرګند کړي .

خالق په خپلو مخلوقاتو کښې پنا کيږي ، دده ټوله توجه تل دقصې درنګارنګ کردارونو د شخصيت په ارتقا کښې ده او به وي دا ښکاره خبره ده چه دانهماك په دې دور کښې دده خپل شخصيت فنا کيږي ، همدا سبب دی چه په ډراما کښې د کوم يو پيغام او يا نظريې کوم ګنجايش او ځای نه ليدل کيږي .

داسې ايسې چه ډرامايوازې يوفن دی او فکر پکښې ډېره مداخله نه لري ليکن دايوه مغالطه ده ډراماليکونکی دخپلو هغو کردارونو په واسطه چه دده خپل تخليق دی د خپلو فکرونو تبليغ په ډېر لطافت سره کولای شي که ديوې ډرامې ټول کردارونه دپوره ځيرني لاندې ونيولې شي نو په هغو کښې به تاسې دډراماليکونکی پټ نماينده په ستر ګو وګورئ .

(له آجکل څخه ، داپريل ګڼه ۱۹۶۴)

بناغلی حبیب الله (پښتون زوی)

د پښتو اصطلاحات

۴

۳۵ - تنګې سترګې لرل

(سترګې) ، دلته د (فکر او وسعت نظر) په معنا دی ، او (تنګ والی) د (کموالی) معنا ورکوی . نو « تنګې سترګې لرل » په کم فکر ی دلالت کوی ؛ یعنی د کم فکم فکری معنا لری . د تنګو سترګو خاوند هیڅ وړاندې وروسته نه ګوری او تل سطحی او سرسری فکر کوی چه په همدې اساس یې کارو نه هیڅ سطحی او سرسری وی .

که ووایو چه : «پلانی تنګی سترګې لری .» نو معنا یې داده چه کم فکره دی . او اندیښنه یې خامه ده ؛ نه خپل ګوری نه بل ، او ژور فکر نه شی کولای .

کله کله «تنګې سترګې» د سرابښی (حرص) معنا هم ورکوی مثلاً: «پلانی تنګې سترګې لری» یعنی حریص دی ، تل د مال دټولو لو فکر ورسره دی ښندنه او سخاوت نه لری او خسیس دی (۱) .

۳۶ - بې سترګی کول

دا اصطلاح هم پورتنی اصطلاح ته نژدې غوندې ده . څوك چه بی سترګی کوی ګویا هغه بی لحاظی کوی . نو بې لحاظه انسان دهیڅ شی خدا و اندازه په پوره توګه سره نه شی ساتلای . کله کله دا اصطلاح د (بې شرمی او بې حیایی) دپاره هم راځی . مثلاً ځینې داسې بزګران پیدا کیږی چه د بل چاد پټی پوله وهی یعنې دهر چا پټی چه ورته نژدې وی ، نو دهغه دپټی یو څه برخه خپل پټی ته راګډوی اوله حد (ټك) څخه تجاوز کوی . نو دلته ویل کیږی چه : « پلانی بې سترګی کړې ده . » یعنې بی لحاظی یې کړې ده ، دهمسایه اوشفع ګیر دحقوقو حداواندازه یې نه ده ساتلې . که څوك لږ شرم او حیاولری داسې کار نه کوی ، نو دې بزګرچه داسې کار کړی دی ګواکی بې شرمی او بې حیایی یې کړې ده اودهغه بل لحاظ یې نه دی ساتلی . کله داسې هم راځی چه که څوك کوم کو چنی ووینی چه شوخی کوی اودی یې له شوخی څخه منع کوی او هغه نه منع کیږی نو وایی : «ناهلك ډیره بی سترګی کوی » یعنې بې حیایی او بې احترامی کوی . (۲)

(۱) دخوست په محاوره کښې «تنګ سترګې لرل» د (تنګ نظری) ، کم ظرفی) په مفهوم استعمالیږی یعنی هغه څوك چه په جزئیاتو پسې ګرځی ، دډیر لږ قدرت خښ هم ناوړه استفاده کوی او دډیری لږې ګټې څخه هم نه تیریږی (ر و هم)

(۲) دخوست په محاوره کښې (بی سترګې کول) دبی انصافی او بی تمیزی په معنی ده .

۳۷ - مړې ستر ګې لرل

دا اصطلاح دهغه چا دپاره راځي چه هغه دکوم نا مناسب کار په کولو نه خډېږي ، او تل دکو چنیانو دپاره استعمالیږي .

مثلا ډیر داسې پیښیږي چه یوسړی په خپل کور کښې خپل زوی ته وایي چه : «دسبق وخت دی ، ولاړ شه په جومات کښې» ملا څخه سبق ووایه ! » نو هغه کو چنی د سبق ویلو دپاره جومات ته نه ځي او د (هو) ، (نه) یا (نه) ځواب هم نه ورکوی ، نو په همدې وخت کښې یې پلار ورته وایي : «ډیرې مړې ستر ګې دې دی !» یعنې خبره نه منې ، سبق ته نه ځې او بې غیرتی کوی ، او په دې بې غیرتی هم نه شرمیږې .

کله کله داسې هم وی چه څوك کوم بدکار وکړی او خلك ورته ووایي چه : ولې دې داسې کار وکړ! نو که هغه کوچنی دهغه نامناسب کار په کولو خجل او شرمنده نه شی او ځواب هم ورنه کړی ، نو ورته وایي : «ډیرې مړې ستر ګې دې دی !»

ددې اصطلاح دلومړی کلمې اول توری (م) ساکن دی . (۱)

۳۸ - دبل په پله تلل

کله چه څوك ووایي : «احمد دمحمود په پله ځي .» نو معنا یې داده چه احمد په خپلو کارونو کښې د محمود په لاردرومی یعنې دهغه روش او لاره یې غوره کړی ده ، له کومو شیانو څخه چه محمود کار اخلی احمد یې هم ځني اخلی او کوم کارونه چه محمود کوی ، احمد یې هم کوی . یا دا چه کوم طرز ، روش او لاره چه محمود د خپلو

(۱) د (م) په ذور «مړې ستر ګې لرل» دقناعت درلودلو په مفهوم استعمالیږی

(اداره)

کارونو د کولو د پاره انتخاب کړې ده ، احمد هم هماغه لاره خوښه کړې ده. مګر دا اصطلاح ډېره د بدو کارونو د کولو په وخت کښې استعمالیږی .

لکه چه یو سړی په خپل ژوند کښې بد بد کارونه کوی او کله یې چه زوی په مېنه پاتې شی او د خپل پلار په دود بد کار ونه کوی ، نو نور اولس وایی :

«پلانی د خپل پلار په پله روان دی .» یا «پلانی د خپل پلار په پله ولاړ .» استعمال یې داسې دی :

احمده ! د محمود په پله مه ځه ، او دا بد بد کارونه پریږده ! «یعنی دی یې منع کوی او ورته وایی چه د محمود خوی پریږده او دهغه په څېر بد کارونه مه کوه .

لنډه دا چه دلته په (پله) کښې دلاری ، طرز ، روش ، خوی او کار) معنا پرته ده . نو هر څوك چه د بل په پله ځی ، ګواکی دهغه (لاره طرز ، روش ، خوی او کار) یې ځانته غواړه کړی دی .

(پل) د (قدم) په معنادی او دلته د کیفیت له مخې د بل په پله تلل مراد دی .

۳۹ ـ غټې پوندې لرل

« غټې پوندې لرل » له کم عقلی او ناپوهی څخه کنایه ده .

هغه څوك چه تل بې سنجشه کارونه کوی یا تل داسې خبرې کوی چه له صحیح او درست فکر څخه نه وی را وتلې او هم تل د خپلو کارونو د پاره داسې نخشه او پلان جوړوی چه پښیمانی پکښې پټه وی یا ډېر احساساتی او سر تمبه وی نو خلك وایی : « د پلانی پوندې غټې دی . » یا : «پلانی پوندې غټې دی ، والله که به داسی کار وکړی چه زړه به دی پرې

خوښحاله شي. « یعنې کم عقل او ناپوه دی او باید چه دښه کار د کولو امید ور څخه ونه شي. یوه بله اصطلاح هم شته چه کټ مټ همدغه مفهوم افاده کوی او هغه داچه: « پلانی پښې لوڅی دی. یعنې له عقل، فکر او پوهې څخه ډیره لږه برخه لری.

تر کومه حده پورې چه مونږ د پورتنۍ اصلاح په باره کښې فکر کړی او یا مو خلك پوښتلی دی نو شا نزول یی داسې دی چه پوندې یې ځکه غټې دی چه عقل او فکر یی په سر کښی نشته چه دالفاظو په قالب کښې یی څرګند کړی او یا دهغه په اساس معقول کارونه وکړی، بلکه په پونده کښې ځای شوی دی.

له دی څخه دوه مطلبه لاس ته راځی: یا دا چه عوام عقل، فکر او پوهې ته په خارجی وجود قایل وی چه دپوندې د غټ وایی سبب شوی وی. نو داصحیح نه ده ځکه دادرې واړه مجرد نومونه دی. اویا داچه دهر چا پوندې چه غټی وی د دوی په نزد کم عقل دی. اودا هم علمی فکر نه دی. په هر صورت، مونږ ته یې تر اوسه پورې اصلی فلسفه نه ده معلومه. (۱)

۴۰ ـ دم د ر لودل

« دم درلولودل » یعنې ورځ یې برابرېدل. دا اصطلاح دهغه چا دپاره راځی چه دهغه ډیرې هیلی سرته رسیدلې وی او تر یو حده پوری یې ارمان ختلی وی. مثلاً دچا چه زامن هم ډیروی او بیا

(۱) ددې مطلب به داوی چه اکثر بی وزلی خلك چه دژوندو سائل نه لری، ناپوه ګڼل شوی دی او دغسی ناپوهانو په دپښې لوڅی او دبوټونو دنه لرلو په وجه غټی پوندې درلودې. همدا رنګه ښایې له اوښ سره تشبیه شوی وی چه غټې پوندې لری اود خلکو بارونه وړی (اداره)

اکثر پکې پوه او تعلیمیافته وی ـ هم دستر خوان لوی وی اوله بلی خواپه قام هم منلی وی اوهر څوك پـه درنه ستـر ګه ورتـه کسی نوخلك دده په غیاب کښې وایي : « دپلانی دم دی ۰ » یا « دا حمد نن ورځ دم دی ۰ » یعنی ورځ یې برابره ده او له هری خوا یې سمه شوی ده ۰ پلانیه ! نن ورځ دی دم دې ! » یعنې په اصطلاح : بخت دې بیدار او طالع دې سمه ده ۰ یا مثلاً دچا دتیرحال په هکله وایی « پلانی پخوا ډیر په دم کښې و مګر اوس یې خونده نشته ۰ یعنې پخوایی ورځ برابره وه ، چه « په چپه به یې اچوله په ښی به اووښته » مګر اوس یې هغه حال نشته ۰ یا : « د پلانی پخوا ډیر دم ؤ ۰ » یا مثلا یوه بله کلمه هم ورسره یوځای کیږی او وایی : « محمود پخوا ډیر په دم کښې ؤ خو اوس ولوید ۰ »

لنډه داچه دا اصطلاح په پورتنیو مختلفو شکلونو سره راځی او دنیکمرغی معنی پکښې پرته ده ۰ یعنې هرڅوك چه « دم لری » هغه نیکمرغ ، مسعود او خوښ وی ۰

۴۱ ـ داغی کیدل

دلته (داغ) دعیب په معنا دی ۰ نو « داغی کیدل » دعیب جن کیدلو او تومتی کیدلو معنا لری ۰ دا اصطلاح دسړی ، ښځی ، اس ؛ توپك او داسې نوروشیانو د پاره استعمالیږی مثلاً که کوم سړی په تور باندی تورشی نو خلك وایی : « پلانی داغی شو ۰ » یعنی په لمن یې دتومت ټپ ولګید ۰ یا : « پلانی داغی دی ۰ » یعنې تورا و تومتی دی دښځی دپاره هم همدغه مفهوم لری مګر دښځو دپاره دامفهوم افاده کوی

(۱) په ننګرهار کښی داغی سړی او داغی ښځه هغه چا ته وایی چه په کوم ناوړه کار تورن شوی وی (دپښتین)

چه که چیرې څوك له کومې ښځې سره دواده کو لو خیال ولری ، او هغه ښځه ړنده یاکوډه ، یا شله او یا کڼه وی نو خلك ورته وایی : « پلانیه ! دپلانی له لور نه بیرته ګرځه ، داغی ده .» یعنې واده مه ورسره کوه معیوبه ده .

دښځو دپاره دامفهوم هم افاده کوی چه که چیری دکومی پیغلی خاوند ډیر کاله ورك وی اودمرګ اوژوندپته یی معلومه نه وی اوبیا دهغی پیغلی پلاروغواړی چه خپله دغه لور بل چاته ورکړی ، نوهغه سړی ته چه غواړی دغه نجلۍ وکړی نور خلك وایی :

« له دی ښځې بیرته ګرځه داغی ده!» یعنی دعوه ګیره ده ، ودی شی چه میړه یی ژوندی وی ، بیا به په جنجال کښی ورسره پاتی شی .

داس دپاره په دی ډول راځی چه که چیری دچااس یاپه تګ کښی نګوښی اویا تورخوری اویا کله کله په کوم ځای باندی نه ورځی او رنګ یږی اویا په تګ کښی ایرغه نه ځی بلکه په ډیګ دیګ ځی ، نو خلك دتبصری په ترڅ کښی وایی چه : « دپلانی اس یا اسپه داغی ده .» یعنی یوعیب لری . که یی په بدن کښی کوم بل نقص وی ، هم دغه اصطلاح ورته راځی .

دتوپك یاتومانچې دپاره داسی راځی چه یاکاړتوس بندوی ، یاله یوڅو ډزوڅخه وروسته ډیره تودیږی اویایی کومه پرزه بد له وی نو خلك وایی : « دپلانی توپك یا تو ما نچه دا غی ده . » دا اصطلاح دغوایی دپاره هم هغه وخت راځی چه یاپه کولبه کښی پریووځی او یاوهل کوی . دپیوری غواد پاره هم هغه وخت راځی چه یا دلوشلو په وخت کښی لغتې وهی اویاخپل ځان په خپله رووی .

لنډه داچه په « داغی توب » کښی دعیب اونقصان مفهوم پروت دی .

دهرشی دپاره چه دا اصطلاح استعمال شی، ښایی چه دعیب، نقص اوض. رمعنی ورڅخه واخستله شی.

۴۲- لاس ورسره کول

«لاس ورسره کول» یعنی مادی کومك اومرسته ورسره کول. څه رنګه چه مرسته اوکومك دلاس په واسطه کیږی نوځکه دلته دکنایی په ډول (لاس) راوړل شوی او(مرسته) ځنی مراددهٔ. که څوك غله ونه لری او له چاڅخه کومك اومرسته وغواړی اوهغه سړی ورته غله یا پیسی او یا یوه بله وجه ورکړی نودی وایی: «پلانی لاس راسره وکړ.» یعنی کومك اومددیی راسره وکړ اوویې چلولم.

ددې اصطلاح بل شکل «لاس ورکول» دی. نوکله چه څوك له چا سره مرسته وکړی، نورخلك ددوی په غیاب کښی وایی: «احمد ډیر دربدلی ؤ خومحمود په ډیر تنګك وخت کښی لاس ورکړ.» یعنی احمد نشتمن شوی ؤ خومحمود داړتیا په وخت کښی مرسته ورسره وکړه.(۱)

۴۳- ټکه یی په کورلویدل

دلته (ټکه) دناوړې او بدې ناڅاپی پیښې په معنی ده. (ټکه) له اسمانه یوناڅاپه رالویږی، نوکه چاته یوداسی ناڅاپی غم ور پیښ شی چه پخوایی علتونه معلوم نه وی اودهغه غم د شرایطو له برابریدو څخه هم دمخه خبر نه وی، په همدی ځای کښی خلك وایی: «دپلانی په کورټکه ولویدله.» یعنی ناڅاپی غم اوویر ورپیښ شو، دااصطلاح هغه وخت راځی چه دچا په کور کښی یوناڅاپه مړی وشی یا کوم بل نقصان ورته ورسیږی.

کله چه مادی اصطلاح په تحقیق اوڅیړنه کښی خلك و پوښتل

(۱) «لاس ورسره ولګل» هم دلاس ورکولو په معنی استعمالیږی. (اداره)

نوله لسو کسو څخه اتو کسو داسی ځواب راکړ:

که دچازوی یالور یا یو بل خپل په ناڅاپی مرګ مړشی، یعنی یا یی بل څوك مړکړی، یا ترکوم دیوال لاندې شی اویا په (ناڅاپی مرګ) مړشی، نو دااصطلاح هغه وخت منځ ته راځی اوخلك وایی: «دپلانی سړی په کور ټکه ولویده.»

دووکسو داسی ځواب راکړچه: که څوك په چا باندې ناحقه دعوه وکړی یعنی یایی په غلا اویاپه قتل باندی تومتی کړی اوهغه سړی ته نقصان ورپیښ شی اوپه جنجال کښی ولویږی، نوهغه وخت وایی: «په کورمې ټکه ولویده.» کله کله د(ټکی) پرځای (تندر) هم راځی لکه: «دپلانی په کور تندرولویده.» لنډه یی داچه په ټولو صورتونو کښی دبدې اوناوړې ناڅاپی پیښی معنی لری.

۴۴ - تر وورستی پښې نیول

«تروروستی پښې نیول» دوروستنی او اخیرنی بهانې دلټو لو او دهغې په واسطه دیوچا دنیولو اوبند ولو معنا لری. کله چه څوك چاته یودچل دام کیږدی اوپه هغه کښی یې راتې نه کړی، اوبیا یو بل دفریب دام ورته کیږدی اوپه هغه کښې یې هم بند نه کړی او بیا بله دچل لومه ورته کیږدی اوهغه سړی پکښې راونیسی نو ویل کیږی چه: «تروروستی پښې یې راونیو.» یعنی په وروستنی فریبی لومه کښی یې را بند کړ.

دمثال په ډول، که په چا باندې څوك د قتل دعوه وکړی او دی ځان ځنې خلاص کړی بیا دغلادعوه پروکړی اودی بیا ځان ترې خلاص کړی اوبل ځل دکوم بل شی دعوه پرې وکړی او دی بیا برائت حاصل کړی خواخریې چه کومه بله دعوه پر وکړه او په هغه

کښې يې راونيو، نو دې ته «تروروستۍ پښې راونيول» وايي. او خلك يو بل ته سره وايي: «شريف، کريم تروروستۍ پښې راونيو.»

په ځينو ځايو کښې دا اصطلاح بيا سر چپه استعمالوي مثلاً که څوك له چا څخه خپه شوي وي او هغه يې په يو شي خوشحالوي او د خوشحالۍ موضوع ګانې ور وړاندې کوي، نو دي ورته وايي: «دغه تيره دوستي مو بس وه، نور به ډير تروروستي پښې نه سره نيسو.»

۴۵ ـ خاورې پرې اړول

دا اصطلاح هم هغه وخت استعمالېږي چه څوك په بل چا پورې تور او تومت وتړي. يعنې له «خاورې پرې اړولو» څخه مقصد، يو عيب او تومت په بل چا پورې تړل دي، مثلاً که په کوم کلي کښې څوك يو نامناسب کار وکړي، نو ډير ځله داسې پيښيږي چه هغه سړي د څالاکۍ په واسطه ملګري پيدا کوي او بيا د هغو د تبليغ په وجه خپل ځان له تومته ژغوري او په مقابل کښې د هغه نامناسب کار په کولو باندې بل سړي توروي. نو کوم وخت يې چه تور په بل چا پورې وتاړه او خلك پوه شول چه کار دې دوهم سړي نه دي کړي بلکه هغه لومړني سړي کړي دي، نو په همدې وخت کښې وايي: «هغه پلاني کار کريم کړي ؤ؛ هسې خلکو په شريف باندې خاورې اړولې» يا مثلاً که کوم سړي د بدو او نامناسبو کارونو په کولو باندې مشهور وي نو هر څوك چه په پټه کښې يو بد کار وکړي، خلك دا ګومان کوي چه (ده) کړي دي او سم لاسي يې پوري تړي بيا حه خلك پوه شي چه کار بل چا کړي دي نو وايي: «کار بل چا کړي ؤ خلکو هسې چټي په هغه باندې خاورې واړولې.»

په فارسي شاعرانو کښې (عمر خيام) په دې سره مشهور ؤ چه انقلابي

رباعیات وایی. نو کوم وخت به چه چا انقلابی رباعی وویله، خیام ته به یې منسو بوله.

اوس خلك وایی چه: «د خیام ټولی رباعی ګانې او یادی، دانورې بل چا ویلې هسې یې خاوری په ده اړولې دی.» یالکه ملا نصرالدین چه په فکاهی ویلو مشهور ؤ. اوس چه هر څوك کومه فکاهی ووایی، خاورې پرده اړوی. ددې اصطلاح یو بل شکل هم شته اوهغه: «لاس پرې پاکول» دی مثلاً کله چه څوك خپل بدکار په بل پورې وتړی، خلك داسې وایی چه: «بدکار نعیم وکړاولاس یې په کریم پاك کړ.» مرحوم شاعر فقیر محمد زرمتی په یو شعر کښې دااصطلاح داسې راوړې ده:

«ورك شه بدعمل تر برونه کوریې شه تالا
بدکارونه دوی کړی خاورې اړوی پرما»

«تل د دوی له لاسه په عذاب یمه زه ډیر
«ژوندمې یې تریخ کړی خپل پردی شوړانه هیر
«نور مې طاقت نه شی یم له خپله سره تیر
«یا به یې په لار کړم یا به ځم ترې په صحرا
بدکارونه دوی کړی خاورې اړوی پرما»

«خلاص له یواپت شم را پیدا کړی بل اپت
«درست عمر بل کارنه لری بپله شیطانت
«هر څوکه زه سوله غواړم دوی کړی عداوت
«دا مې فیصله ده چه پرې تنګه کړم دنیا
بدکارونه دوی کړی خاورې اړوی پرما.»

(۱) په ننګرهار کښې پر چا باندې خاوری اړول د هغه دنامه د ورکولو او بټولو معنی لری. (دښتین)

۴۶- سر ته یې لاس نه ور وړل کېدل

دا اصطلاح دهغه چاد پاره راځی چه څوک محض یوه اړ ولې خبره ورته وکړی، اودی پورته پرې غور ځارشی او بده پرې ومنی مثلا. داسې ډیر کسان لید کیږی چه چېرته روان وی او څوک پوښتنه ترې وکړی چه: «پلانیه! چېرې ځې؟» نو دی، بی له دې چه خبرې ته فکر وکړی چه هغه خو کوم بدسو ال نه ترې کړ؛ سملا سې په قهر کیږې او ورته وایی: «ته مې څه کوې، چه چېرې ځم! «همداسې دهغه سړی خبره پسې تکراروی: « پلانیه! چېرې ځې؟ پلانیه! چېرې ځې؟» نو په همدې وخته کښې ویل کیږی: «د پلانی سر ته لانه ورو وړل کیږی ومحض په یوه نری خبره باندې سپوږمو ته غورځی.» یا مثلا ډیر داسې کوچنیان هم شته چه دچا خواته ورشی او هغه کومه خبره ورته وکړی یا لاس ورو وړی دی یا سم لاسی ژاړی او یا په هغه سړی باندې شوکا رې لګوی. نو خلک وایی:

«د پلانی د زوی سر ته لاس نه ور وړل کیږی، لکه د خو سکی غوښه په خوله پورې نښلی.» دا اصطلاح هم یو بل شکل لری او هغه «مرچ را بار ول» دی مثلاً وایی «پلانی ته چه څوک څه ووایی، دی نېغ پرې غوځارشی. دغه خو خالص مرچ را بار کړی دی.»

لنډه دا چه په « سر ته یې لاس نه ور وړل کېدل » او « مرچ را بار ول » کښې د عصبانیت نښې ځلیږی او د قهر او غصې مفهوم پکښې پروت دی.

۴۷ - او بو په سر اخستل

دا اصلاح دهغه چاد پاره راځی چه ډیر مشکلات ور پیښ شوی وی او لاره یې ترې ورکه کړې وی او هم نه شی کولای چه یو لوری ته یې سر و باسی او تدبیر یې وتړی. مثلاً که د چا په کور کښې مرګ هم شوی وی او غمجن وې او له بلې خوا پورو ړی هم وی او پورو ړی یې ګهیځ بیګاور ورټکوی او خپل پورځنې غواړی همدا رنګه له چا

سره په کومه دعوه او فقره کښې هم ګرفتار وی ، او نور نقصانونه هم ورته رسیدلی وی ، نو نور اولس وایی : «پلانی او بو په سر اخستی دی .» یعنی په سختیو او مشکلاتو اخته دی او نه پوهیږی چه کومې خواته لاس واچوی او اوځان تکیه کړی .

۴۸ - ورخ او بو ترې وړل

دااصطلاح په دریو ځایو کښې راځی : یو د اچه له سړې نه سم کارونه خراب شی بل داچه په کوم مجلس کښې خوله ځنې بې واکه شی . په لاندې ډول یې له مثالو سره شرح کوو :

۱ - فرضاً یو بزګر غواړی چه غله ژرندې ته یوسی او اوړه یې کړی . که ده په پټی او به لګولې وی او پټی یې هم و تړه وی او له بلې خوایې بیا په همدې ورځ د کاریزه داو بو وار وی چه باید په پټیو یې ولګوی ، نو دی دلته د دریو کارونو په منځ کښې واقع شو یعنی له یوې خوایې خیلخانه نهاره ده بیګاته اوړه نه لری چه پاخه یې کړی او له بلې خوایې پټی وچیږی او بل داچه که په همدې ورځ د کاریزه او به ونه لګوی ، نو او به یې خوشې ځی . که دا بزګر له بل چانه مرسته و نه غواړی نو په دې دریو کارونو کښې یو کارکوی او هغه نور دوه ځنې پاتیږی . یا کله کله داسې هم کیږی چه ددی دریو کارونو تر منځ حیران او شول شهید پاتیږی او ټول یې له لاسه وځی په همدې وخت کښې خلک وایی : «له یوسف څخه ورخ او بو یووړ» یعنی کارونه ترې وران شول .

۲ - که یو سړی کوم مجلس ته ورشی او هلته لږ شانته خبرې ښته پورته سره واوړی او دی خپل ضرر پکښې ووینی ، نو د صبر ، حوصلې او تدبیر له مخې نه شی کولای چه دا هغو د تردید د پاره

دلیلو نه وړاندې کړی او لا ځانه ضرر رچې کړی ، نو سم دلا سه یې حافظه خرابیږی فکری او عقلی سرمایه نه ورپاتیږی او خلکو ته په پوچ ویلو او ښکنځلو پیل کوی . چه څه په خوله ورځی هغه ور ته وایی . په دې وخت کښې نور خلک د ده په غیاب کښې وایی «له پلانی نه ورخ اوبو یووړ : » یعنې خوله یې ځنې بې وا که او ورانه شوه .

۳ - دمثال په ډول ، ډیر داسې کسان شته په کوم مجلس کښې ناست وی ، نو بل څوك په (مصنوعی خوب) ویده کوی . یعنی په چل او فریب سره اول لږ غوندې خپل پټ راز ورته وایی ، یاخپل عیبونه ورته وایی او یا یې که کوم پټ دشرم وړ کارونه کړی وی هغه ور څرګندوی ترڅو چه هغه بل پرې راګرم کړی او ستر ګې یې ورپټې کړی ، چه دې ته په لاتینی (هپنتیسم) یعنی (په مصنوعی خوب ویده کول) وایی . نو همدغه ویده سړی د پښتنو په اصطلاح سم لاسی خپله (کته) په اوبو کښې بدی ، یعنې د پټ راز په ویلو پیل کوی . څه پټ کارونه یې چه کړی وی هغه هم ورته وایی او که په مغزو کښې یې کوم پټ سیاسی فکرونه وی ، هغه هم ورښکاره کوی . نو په دې وخت کښې ټول اولس دده په باره کښې تبصره کوی او سره وایی : «له پلانی نه ورخ اوبو یووړ . » یعنی خوله ځنې ایله شوه او پټ رازونه ترې څرګند شول .

نو په لنډ ډول ویلای شو چه : کارونه ورانېدل ، پوچ او نا مناسب ویل او پټ راز څرګندیدل ، ټول څانګړی مفهوم مونه دی چه دهمدې اصطلاح په چوکاټ کښې ځای شوی دی .

(نور بیا)

دډیلی په ملی موزیم کښې...

دی په قام داشنغرمامنزی بریښی او یوسف زوته ښه نه وایی.
صدیق یوناز کخیال شاعر او دحمید دمکتب تابع ښکاری او په شعر کښی یې نازکی نکتې ډیری دی. دده په شعرونو کښی دپښتونولی جذبه قوی ده او تل دپښتنو دننګ غیرت غوښتنه کوی. دغه دیوان په دې بیتونو شروع کیږی:

داژړا کاندې په سر مژګان زما
طعنه تل کا په سره اورمرجانه زما
دزړه داغ له نعمتونو نه فارغ کرم
ګرم نان شته همیشه په خوان زما

د شعر نمونی:

-۱-

چه اوده شی دمرګی په شیرین خواب
له هغو سره دڅه شی سوال ځواب
لکه په خپل مکان خاموشه پریوځی
جوش خروش لری په زړونو بی حساب
په هغه ژبه خبره درته وایی
چه له سواله یې ته تل یې لاځواب
چه خبر په معماوی درته وایم
له هغه عالمه ولوله کتاب
ګوندی وی له حقیقه خبر دارشې
دهغه کلام په توری په اعراب
ددنیا له مینی سو دچاوړی نه دی
تشنه هم کله سیراب دی په سراب

دژوندون حلاوت شته نشته باور کړه
په دریاب د پاسه وی نوی حباب
دامنت په مادخیال دی زه پوهیږم
رفاقت چه نن له ماکا د ا ا حباب
معلم دعشق صدیق هسی تعلیم کړ
چه اوس لولی حقیقی معنی کتاب

-۳-

چه په زړه می خیال د ښکلی شیرین کښیناست
زیب آور شو په چمن چه نسرین کښیناست
د جبین خولو ته ستا هو مره حیران یم
چه له کومه په داماه داپروین کښیناست
دیوسف با د شاهی ګوره پس له بنده
تل خوښی شوه دهغه چه غمګین کښیناست
دغونچی ښایست نشست د بورا ډیر کا
عجب خال دی چه په مخ باندی شین کښیناست
چه په عشق کښی صدیق ستا انګشت نمای شو
ځکه غږ اوس دفرها دو شیرین کښیناست

-۴-

توره شړی ښه وینم نیم لنګ نیمه په سر
ور ك شه د مغلود بخښښ د مندیل سر
پړی تر ملا ښه دی چه دې لور په ډوډی لك وی
نه زری قصب چه ته پرې لك لری خنجر
واړه لیو نی شول پښتا نه چه پسی زغلی
ننګ وته یې شاه کړه له مغلو غواړی زر

حق د پښتنو دی که اوس بیاد ننګ د پاره
سور په شاهزاده کا د غه تور خونی خیبر
وړاندی زه هلك وم چه پر ې ډوب محمد امین شو
ښه ښه شهیدان وو ډیر مغول شول پر ې ډ بر
نه مومند ایمل شته نه خوشال خټك دریا شته
نه لښکر غلجی له پښتنو خا لی شو غر
حال د پښتنو د ننګ په کار کښی رانښکاره شو
واړه هیڅ کاره دی بی حیا نا مزد بشر
دریغه که وطن په تور وغرونو د صدیق وای
مه وای په نوښار ملك یې مه و ای اشنغر

نوری قلمی نسخی :

د ډیلی د ملی موزیم نوری قلمی نسخی په لا ندی ډو ل ښودل کیږی :

۱- د شیدا دیوان
۲- فواید شر یعت
۳- دسکندر خان دیوان
۴- دمسری خان دیوان
۵- مخزن الاسلام
۶- داحمدشاه بابا دیوان
۷- دخوشحال خان دیوان
۸- درشید البیان «
۸ معراجنامه
۱۰- د پښتو فقه کتاب

۱۱ ـ دشاه اوګدا قصه

۱۲ ـ د مهین دیوان

۱۳ ـ نور نامه

۱۴ ـ دحضرت یوسف قصه (دا کتاب دمخه په فهرست کښې موجودؤ خو اوس چاوړ ی دی)

۱۵ ـ آمد نامهٔ پښتو ددې، کتاب دپاسه لیکل شوی دی :

دمولوی دوست محمد دټونك دریاست دملازم تالیف مګر دغه کتاب هم اوس په ملی موزیم کښې نشته اوله منځه ورك شوی دی .

د ځینې کتابو پکښې دوه دوه نسخې هم موجودی دی د رشیدالبیان او نور نامې ډیرې ښې نسخې پکښې هم شته دی .

واسعی

د پښتو شعر او ادب

خوږې خواوی او خوند وراړخونه

مختوری او د پزې پری کیدل په پښتنو کښی یو لوی پیغور او د عمر د پاره بی ننګی او شرم دی په پخوا پښتنو کښی د مخ تورول او پرخره سپره ول او په بازارو ګرزول تر مرګ رالاندی سخته سزا او مجازات بلل کیده بلکه ډیرو خلکو به مرګ په خورا خوشالی او ورین تندی قبلاوه خو دغه تاریخی شرم او بی ننګی ته یی ځان نه نیوه ، د پزی پرې کول خو د پښتنو په تاریخ کښی مونږ ته نه دی معلوم او دانسو ویلای چه په یوه عصر او دوره کښی دی د پښتنو په حکومت کښی یوه پښتون حاکم دیوه مجرم پزه مجازاتاً پرې کړې وی خو د خره چپه سپارلی او مختوری یا بی د خره له سپارلی څخه په سپین مخ یا په تور مخ په بازارو ګرزول به د ډیرو خلقو اوس لاهم په زړه وی او داسی منظرې به یی پخپلو سترګو لیدلی وی. خو په پښتنو کښی د دغو دوو شیانو څخه سخته کرکه شوی ده او د دې کرکی په حکم مختوری او پزه پریکیده په پښتنو کهولونو او کورونو کښی د ښیرا بڼه موندلې پښتنی میرمنې د شدید عصبانیت او عداوت اور په همدغه ښیرا وژنی او یوه بلی ته وایی: «مخ دی تورسه» یا «پزه دی پرې سه» د پزی

تر پرې کیدلو پورې په پښتو کښې یو متل هم سوی دی چه وایی:
(پز پرې سوی که شرم در لودای د چړې نوم به یی نه اخیستلای)
دامتل هغه وخت تیر یدلای سی چه یو څوك په یوه وراو ښتی شرم او
ننګ نه شرمیږی او بیا یی نوم لا هم اخلی او بحث ؤ مذاکره
پکښې کوي.

دیوې ژبې شعرا او ادباء چه دخپل قومی ژوند د عنعنا تو او د
ملی ژبې دروح او خصوصیاتو څخه تر هر څه دوړاندې الهام اخلی نو
هر ومرو داسی موضوعاتو ته ورځرمه کیږی او ځان ځنی وهی لکه
شمس الدین کاکړ چه د محاورې سره سم خپل میرځی ته ښیرا کړی او
دخپل ځښتن څخه یی دهغه مخ تور او پزد پرې غوښتی ده:

مخ یی تور پزه یی پرې کړې په عالم کښې
غل د نفس می رار سوا کړې زما ر به!

ماشوخپل مومند هم داپښتنی پیغور یاد کړی دی او د خپل مین
سره نه تلل او پر کوروالی یی د ځان د پاره مختوری او د خره
سپارلی بللی ده:

چه می یار په سفر تللی زه پر کو ریم
ګویا مخ په تبی تور او پرخره سپو ریم

سسته بګړی تړل په پښتنو زلمیانو کښې د زلمی توب د کبر او
غرور نخښه ده هر ځوان چه پخپله ځوانی ډیر مغرور او زښته
خیالخوروی هغه خپله بګړی سسته تړی اوول ول یی پرور ځو او
تندی یاشاته پرځټ او اور میږ پرته وی سسته بګړی تړل د پخوانو
پښتنو زلمیانو دغرور او بی پروایی او د ځوانی او ټکك مستی یوه
فارقه علامه وه دهر ځوان چه به سسته بګړی ترسر وه خلقو به د بی

باکه متکبر مغرور په نظر ورته کتل او د زلمیتوب په نشه کښی به سر تر نوکه ډوب بلل کیده .

دلته ما ته تر سستی بګړی پورې دمهربان کاکا یوه لطیفه راپه زړه سوه :

مهربان کاکا په کندهار کښی زمونږ په محله کښی یو سپین ږیری ؤ ده به دماپښین لمونځ د کندهار په تاوده دوبی کښی تر توپ وروسته پر نیمه یا یوه بجه کاوه او مسجد ته به ورتلی او محراب ته مخامخ به یی خپل شین دسمال (جای نماز) وغواړوه او د اذان او امام انتظار به یی کاوه یوه ورځ مهربان کاکا محراب ته مقابل پر خپل شین دسمال ناست دی که ګوری ملا پلانی چه د مسجد د طالبانو څخه یو طالب دی په اوږدو اوږدو ګامونو په داسی حال راروان دی چه څونی له خپل مخ اوتندې څخه ترغوږ واړوی اولنګوټه چه پسی کشیږی هم ترسرسته سسته تاووی راغی او غواړی محراب ته ورسی . مهربان کاکا ورته وایی :

« ملا پلانیه ! سنت د کړی دی ؟»

ملا پلانی : په مهربان کاکا اودس لاهم نه لرم .

مهربان کاکا : داڅه وایی ؟

ملا : مهربان کاکا اوس فقط ستا کار درخلاصوم مونږ پس له دې بیدیږو دغرمی خوب کوو وروسته بیا اذان کوو او خپل لمونځونه کوو .

نو ددې قصې څخه چه هیرویی مهربان کاکا دی هم دا څرګندیږی چه سسته بګړی اوول ول چپه ؤراسته لنګوټه تړل د پښتنو زلمیانو دکاکه والی اوچتی یوه بارزه نخښه ده او ځوانان ؤ زلمیان یی دځوانی اوزلمایو شعار بولی اودهر سرشاره زلمی به د بګړی وانه سست او

پرڅټ وتندی پراته وی دادځوانۍ ملی ممیزه دشعراوادب نړۍ ته هم ورغلی ده اوشاعر دغرور او تکبر څخه کنایتا تعبیر په کړی دی لکه شمس الدین کاکړ چه وایی :

مرګی ډیر عالم سرتور کړه شمس الدینه
ته لااوس په خیال ترسرتړې دستار سست

خورؤ مور په پښتنو کښی دواړه دروند ځای لری او په درنه ستر که ورته کتل کیږی مور ددینی نقطه نظره اودملی نوامیسو په ایجاب ډیره نمانځل کیږی اومشره خور په کاله کښی دمور ځای لری دکور کشران اوواړه دمور په سترګه ورته ګوری هغه نمانځنه او حرمت چه دمورسره کیږی دمشری خورسره یی هم کوی بلکه پښتانه چه غواړی دیوه کاره څخه لوړه وکی اودیوې ناشوونکی چاری غوندی یی معرفی کړی دمورو خور نوم اخلی اوناممکن او محال ددوی دحرمت سره مشابه کوی. دمورو خوردغه حرمت د شعراوادب کورته هم ځان وررسولی اودپښتوژبی شعراوشاعری ته یی خونداو رونق ور بخښلی دی لکه شمس الدین کاکړ چه پخپل یوه بیت کښی وایی :

غم چه یوځله دچاپه کور شناخته شی
خلاصیده یی ترا بده خورؤ مور

دلته شاعر داڅرګنده کړی ده چه دچاپه کور چه یوه پلا غم روږدسی بیایی خلاصیده له غمه څخه داسی ناممکن دی لکه دمورؤخور حرمت چه قطعی او ابدی دی .

پښتانه بزګران خپل کښت اوکرونده په زیاته بیا فالیز دضرر رسوونکو حیواناتو اوبعضو مرغانو دتاوانه څخه ژغوری اودی ته

یی ډیره هڅه اوتلوسه وی چه فالیز یی مرغان پخپلو مشو کو ونه
څوکری یی اوسپی و چغالان او نورله دغه ډوله حیوانات په ګډنسی
اوپه پښوو چمبو یی ونه خری. ددی مقصد دپاره بزګرانو یوه حیله
راایستلی ده هغه داده چه دکښت او فالیز په میانځ کښی لوئی لوئی
لوټی یوه پر بله سره کښیږدی او یوڅلی غوندی ځنی جوړ کړی
داڅلی چه تقریبا دسړی د قد په اندازه لوړ سی نو یی پر سر یوه
توره کټو نسکوره ورکښیږدی نو دهوا مرغان او نور حیوانات
ددې توری کټوی څخه چه د څلی پرسر نسکوره پرته وی توریږی
اوهرڅونه چه نزدې ورته راځی هغونه ځنې ترهیږی که فالیز لوی
وی او ډیره ساڅه یی نیولی وی نو داڅلی او کټوې شا خوا
پنځه شپږ ځایه پر راګرزیدلی اوپرهرګوټ یوه یوه توره کټو ښکاری
ددې دود او بزګری رسم وعادت څخه دپښتو شعر وادب هم بی برخی
نه دی پاته سوی شمس الدین کاکړ پخپل کلام کښی رقیب چه
دمعشوقی مخی ته ګل ناست وی د فالیز توره کټو او کو دی بولی
او وایی :

سپی رقیب یی کښینولی دی په مخ کښی
هرڅوك ږدی کودی په مخ کښی دفالیز

دسهار وږمه خویو روح بخښونکی کیف لری او د چ خبره مړ
ژوندی کوی دژوند اوشپو ؤ روڅو په خوږوا وخوند ورو حا تو
کښی دلوی سهار نازك نسیم او معطره وږمه خپل خاص کیف او
ځانته خوښې او یوروحی سرور لری دسهار وږمی چه دباغچو او
بڼونو څخه ځان وهلی او دهر بوټی اوګل له ښکلې مخه یی استفاده
کړی اولاس یی وروړی وی دزړه وړونکو بویونو څخه ډکه وی او

دګل و بلبل ترمیانځ یې د مینې او معاشقې ډېر استرا روړی راوړی وی .

دسهار وږمه د مینانو دوږو سترګو او ټپي زړونو، دارمان څخه دډکو ټټرونو طبیب او دواؤ درمل ده دسهار وږمه د دوو مینانو ښکلی او محبوب ځری او قاصد دی او دوه مینان یو د بل لوه سره په ما توی او هر یو دځانه سره وایی چه دا وږمه خو به دده څخه مښتی وی او د کور له وره او د بوالو څخه به یې راتیره سوی وی . لنډه دا چه دسهار وږمه درنځو رو زړو دوا او د زخمی ټټرونو دارو او د رمل ده . شعر وادب دسهار وږمه په هره ژبه ستا یلی او راز راز یې نمانځلی ده هر قسم موضوع یې ځنی جوړه کړی او په مختلفو لهجو یې دسهار دوږمی سره خبری کړی او د زړونو راز ور سره ویل سوی دی .

لکه شمس الدین کاکړ چه الی ځلی زاری او جګی ورته کوی او د معشوق تر کور او کهوله پوری د دې په ملګری ځان رسول ور څخه غواړی او هیله ځنی کوی :

چه سبا دیار په مخ نښلی نسیمه !!
خدای دپاره ماهم سم در سره بوزه !!

(نور بیا)

دادب پوهنځی

ښاغلی نثاری ستا نیزی

هیله

ساقی ! ولاړ یمه د جام په هیله
دنا آرام زړه د آرام په هیله
ما ښام می لاړودسحر په امید
سحر می تیرشود ماښام په هیله
ښکلی ویده وی زه یی سر ته ژاړم
دخوږ وشونډ ود انعام په هیله
سهار پتنګ رانه رخصت واخیستو
زه لاژوندی یمه دکام په هیله
دسرو باړ خو په لمپو زړه نیسمه
د پستو شونډ وذ سلام په هیله
په انتظار سره می اور نشومړ
رم دجنون می نشورام په هیله
در سته شپه لارې د نسیم څارمه
د چا د زلفو د پیغام په هیله

دعشق پیغام له ماخبرې غواړی

لاندنی شعر چه ملا عبدالمنان «حیرت»
ویلی دی د ښاغلی «خواجه» د دې بیت
په جواب کښې دی چه وائی:
دجانان خبرې غواړم له «منانه»
چه دعشق په باب کې دی پوره ملا

دجانان سر له ما سندرې غواړی
(خواجه) غواص کړم مرغلرې غواړی
نه ځلو یښت زړونې سره و ښورول
زما دزړه مراد نادرې غواړی
بیشکه عشق بې لیو نتو به نه وی
پر دې دنیا دجنت حورې غواړی
پردې دراز پورته کوی له خلکو
الماس وړیا لکه کودری غواړی
دا هم دمینې داثره کیږی
آب حیات چه خورا لیری غواړی
زه د هجران پیالې د زهرو چښم
خو آشنایان له ماشکرې غواړی
زه په کوثر در سره کړمه قسم
چه هغه زرواري د تورې غواړی
شمه ئی مفته چا لیدلی نه ده
په زرو مندی دلته بورې غواړی
څو زرغونې لمبی ئی پوړته نشی
داغش الود زراور د سرې غواړی
یوازی چاته حال دغم کړمه عرض
رشتیا دعشق مضمون ملګری غواړی
بوالهوسان مې په حال مه خبروه
دفتر دعشق په ټولو څیرې غواړی
«عبدالمنان» یوازی مه غموه
دشاپیر یو جنګ لښکرې غواړی

خ . خاموش

دزمانی نه ګیله

تاثیر دمستو ستر ګوئی په زړه یم در دولی
دزړه خوابه در دو نه می آرام ته نه پریږدی
ماو غوښتل چه و کړمه تعظیم دیار حضور کې،
بدستر ګی غمازان می یوسلام ته نه پریږدی
حیران یم ورته پاتی د غماز ګټه به څه دی
ماسوی او ردمینی چه ګل فام ته نه پریږدی
تخنیږ مه په زړه کې د اشنا د مخ ښا یست ته
خندا د لیونی زړه می کلام ته نه پریږدی
دډیری خوشحالی نه ورته ځی په ځی ولاړ یم
نشه دخمارو ستر ګو می ګام ته نه پریږدی
له هرې خوانه ګو ری رقیبان په بد و ستر ګو
داخوشی زمانه می خپل مرام ته نه پریږدی
اشناله ځایه پا ځیده خاموشه خواله ورشه
دیدن دې راته ښکاری څوك انجام ته نه پریږدی

حبیب الله (پښتون زوی) زرمتی
داد بیا تو پوهنځې محصل

لالهاند غرڅه

د کنی (۱) د لوړو غونډیو ترمنځ مې د غومبر خولۍ (۲) په ډډه کښې نا څاپه، په یؤ (لالهاند غرڅه) باندې سترګې ولګیدې؛ غلی غلی غوندې ورتلم او خواته یې ورنژدې شوم. دی هم زما د پښو د څرپاله اوریدو سره سم ودرېد او ریږد واخیست. زه دده په ننداره بوخت شوم، ودرېدم

---

(۱) کنی: په پکتیا کښې د زرملې ختیځې خواته یو هسک غر دی چه شمالاً او جنوباً پروت دی. لویدیځې خواته یې د زرملې هموار ه او سمسوره دره پرته ده او ختیځې خواته یې د مخدراڼو کلې دی. له دې غره نه دوه ځایه او به راوځی او کوزې د زرملیانو په ګښتو لګیږی د غره له اړخی نه ترښکته کلیو پورې دواړه ځایه او بوته ژرندې جوړې شوې دی چه یو ځای اوه ویشت او بل ځای یی اولس ژرندې کیږی، د دې غره په اړخ کښې لوړې لوړی غونډۍ دی چه تر نور غره ټیټی دی.

۲ غومبر خولۍ: د کنی د غره په منځ کښې یوه ډیره هکه او لوړه څوکه ده چه تقریباً د درې له سطحی نه، شپږ نیم زره تر او وزرومترو پورې لوړوالی لری د دې څوکې په سر یو هوار میدان او په هغه باندې څلور زیارتونه (قبرونه) موجود دی کله چه څوک په غومبر ودریږی، نو داټک دریاب او دښون علاقه په اسانۍ سره لیدلای شی. د غومبر خولۍ د (وجه تسمیې) په باره کښې ډول ډول افسانې موجودې دی چه هغه زموږ په دې بحث پورې اړه نه لری.

او په ځیر ځیر مې ورته کتل ، مګر ده خپلې له وېرې ډکې عټې ستر ګې داسې په ما کښې خښې کړې وې تا به ویل چه زما له لاسه یې ډیر ډیر ربړونه لیدلی او اوس بیا په پسې راغلی یم...

ستړې سایې اچوله ، او نری نری ژړغونی غږ یې ترسپوږمو راویست ؛ نه په شا تلای شو نه په مخ ، اریان ولاړؤ او بګاو بګاو یې ما ته کتل !!

یوه شیبه دواړه همغسې ساکت یو دبل په لیدلو بوخت وو ، او بیا مې دده پخوا کرار کرار دوه درې ګامونه ور واخستل ، خو پوه شوم چه ویښتان یې زیږه شول ، غوږونه یې بوڅ کړل او منډې ته یې ځان جوړ کړ !

ما نه غوښتل چه دی رانه بیل شی ځکه چه تر هغه وخته پورې یې نه په حال پوه شوی وم او نه یې دسرو ، او له او ښکو ډکو ستر ګو په علت ...

په ډېره نرمۍ سره مې په خبرو پیل وکړ او ورته مې ویل :

ای ښکله غرڅه !! ته ولې له ما وېریږې ؟ ولې دې منډې ته ځان چمتو کړ او ولې داسې بی زړه اوډارن یې ؟! ته خو دهغه غرڅه ؤز وزات یې چه د هیچا پروا یې نه لرله ، له زمریانو او پړانګانو څخه به یې باج اخیست او ډیر غټ غټ زړونه یې درلودل !!! ده وویل :

هو !! ته رښتیا وایې مګر ... مګر اوس زمانه بدله شوې ده .

دا خبرې چه ته کړې ؛ هر وخت موږ ته بلا شوې دی ، ښکاریان ، تل موږ په داسې رنګینو خبرو غولوی او بیا مود ټوپکو په ګولیو پیې !!

زموږ د پلرو د ژوند ساحه ډیره ارته وه ، هرې خوا ته آزاد ګرځېدل

هیچا یې مخه نه نیوله او نه یې چا په دام کښې د کښیستلو خیال درلود ستاسې پلرو او نیکو هم له دوی سره مینه درلوده ، هغوی یې روزل او ډیر پرې مهربان وو ! نه یې په خپله ضرر ورته رساوه او نه یې د بل چا ضرر ته ورکول ، او کله به چه ستاسې پلرونه دې غرونو ته راغلل ؛ زموږ

پلرو نه به هم په ډېره خوشحالۍ سره څنګ په څنګ ها خوا دې خوا ورسره ګرځيدل!!

(خو)! اوس چه له هغو پلرو څخه تاسې اوزموږ له پلرو څخه موږ پاتې يو، نو هغه مينه، په ټګۍ بدله شوه... په تاسو کښې د خپلو پلرو مهربانې او زړه سوی نه دې پاتې شوې، رنګ مو بل اوشان مو بدل شو!

ستاسې مهربانی او رحم، ستاسې د پلرو له مهربانی او رحم نه ډېر تو پير ګری ځکه: موږ تاسې (اوسنو انسانانو) ډېر ځغلولې يو، په موږ مو د توپکو ډزې کړې او خپله پلارينه سيمه مو را باندې تنګه او ترخه کړې ده!

تاسې زموږ ډېر زلميان په اور وراته کړل او اوس هم غواړی ء چه زمونږ غوښې کباب کړی ء او له پوستکو څخه مو نغارې او ډولو نه جوړ کړی ء؛ ولې ستاسې پلرونه ستاسې په شان نه وو؛ هغوی په موږ رحم او مهربانی کوله او موږ ته يې موقع را کوله چه له دې غرو نو بهر په آزادو چمنو کښې وڅرو او خپل ژوند تأمين کړو!!

نه پوهيږم موږ کوم جنايت کړی دی چه (تقدير) ستاسې د مستۍ هوس، ساعت تيرۍ او خوراک د پاره لازم وګڼلو!!!

نه پوهيږم مونږ کومه ګناه کړې ده چه تل مو ستاسو د جفا او بی انصافۍ غشې ترلړمنو خيژی!!!

پوه شوې؟! اوس (زه) ځکه (له تا) څخه ويريږم او هيڅ زړه نه شم کولای چه خواته دې درنژدې شم، ليکن... ليکن بيا به هم همدا اوس د خپل ژوند پړی ستا په لاس درکړم؛ ګورم به چه څه کوې!!!

آه، کاشکې تاسې د خپلو پلرو په څير له موږ سره ګوزاره وکړی ء او موږ ته اجازه را کړی ء چه د دې تورو تورو او ايسار و غرو له منځه ازادې هوا اوارتې ورشو ته درووځو؟؟؟

کاشکی زموږ په حال رحم وکړی ء او د دې غرونو ترمنځ مو نور بنديان ونه ساتی ء!!؟

کاشکې ستاسې په زړونو باندې درحم او به تویې شي، او موږ پریږدئ چه په هغو باغو اوشنو ور شوګانو کښې وخرو. چېرې چه ستاسې (وزې او پسونه) څرې!!!

دغر څه هغو سو ځند وخبر وزما په رګو کښې وینې په غورځنګ راوستې او دفکر په جهان کښې مې انقلاب راپیداشو، په سترګو مې توره شپه شوه، په ځان ونه پوهېدم غوځار شوم، او په فکر او عقل مې د بیهوښۍ او بېخودۍ پرده وغوړېدله.

څوګړۍ همغسې بېهوښه پروت وم او له ځانه یې ځانه وم، خو چه سترګې مې لوڅې کړې؛ ورځ تیره او لمر په غرغړه ؤ، او زرینو وړ انګو یې د وروستنۍ لحظې دپاره دهسکو غرو له څوکه څخه خدای پامانی اخسته.

هغه لالهاند غرڅه، هغه د (تقدیر) په چړوز پای ساکښ او هغه دانسانی بی عدالتۍ په لمبو وریت مظلوم تللی او تری تم ؤ او هیڅ پته یې نه نه لګیدله.

زه، همغه شان په څپل ځای هك پك او حیران ناست وم؛ دغرڅه خبرې او حال مې د سینما دفلم په شان دفکر او تصور په پرده کوت...

ورو ورو تیاره کیده، د دنیا په مخ دشپې توره پرده وغوړیدله او دماښام په (نظیر ړنګ) کښې زدهم بیا دفکر په سیند کښې ډوب او لا هو شوم او د (انسان) افعال او کردار مې د خپل ذهن په لابراتوار کښې تجزیه کول...

آه!!! په رښتیا چه مونږ ډیره بی انصافی کوو...

که زمونږ داقوت او قدرت دنورو دژوند دپاره مضروی؛؛؛ که زمونږ سترګې د دنیا ټول رڼا او تیاره؛ نژدې او لیرې ګوټونه ونه وینی نو په رښتیا چه خپل وجدان ته به تل پړه او مسئول یو!!

مونږ باید پردی ژوند ترخپل ژوند قربان نه کړو او هم د بل چا طبیعی او حیاتی حقوق دخپل مفاد دپاره ترپښو لاندې نه کړو!!!

(پای)

پته

غازی واټ ، شمالی برخه ، نوی ښار
کابل- افغانستان
دپښتو ټولنې درئیس
تېلفون لمبر ۲۰۳۵۰
کابل مجلې دتېلفون لمبر ۲۱۷۱۶

داشتراك بیه

«په افغانی»

په کابل کښې ۴۰
د هېواد په نورو برخو کښې ۴۶
زده کوونکو ته نیمه بیه :
۱- کابل ۲۰
۲- اطراف ۲۳
د باندې ملکو کښې : ۵ امریکایی ډال
دیوی ګڼې بیه : ۴
د شپږو میاشتو اشتراك هم منل کېږي
د پښتو ټولنې د جاری حساب لمبر په افغانستان بانك
او اطرافي نمایندګیو کښې یې : ۷۱۸۷
داشتراك بیه په اداره کښې هم اخیستل کېږي

(۶۳۶)

پرله پسې ګڼه

(۴)

دولتی مطبعه



Monthly Journal Of The Pashto Academy

Publishes articles in Pashto on Literature, Philosophy, Philology, Sociology, Art and related fields

President of the Academy Pohand Reshteen
Editor: M. Sidiq Rohi
Co-editor M. Moman Patwal
Address Pashto Academy
Kabul, Afghanistan